# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱٤٥) ګڼه / چهارشنبه ۰۷ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰۹ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۹ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


## نمایشگاه تولیدات افغانستان و ازبیکستان در کابل و ترمذ برگزار می‌شود

شـریعت: افغانسـتان و ازبیکسـتان در سـال ۱٤۰۲ خورشـیدی، بـر اسـاس تفاهمنامـه مشـترک در سـکتورهای مختلـف و پروژه‌های بزرگ بـا هم کار خواهند کرد.

معاونیـت اقتصادی ریاسـت الوزرا روز گذشـته با نشـر این خبر گفت: که بر اسـاس تفاهمنامـه، افغانسـتان و ازبیکسـتان در سـال جاری، روی یـک سـری پروژه‌ها و سکتورهای با هم کار خواهد کرد.

در خبرنامه آمده اسـت که بر اساس تفاهم، تجارت دوجانبه میان دو کشور به ۲۲٥ میلیون دالـر و میـزان صـادرات و واردات بـه ۱ میلیـارد دالر خواهد رسید.

همچنـان در خبرنامـه گفته شده اسـت که در سال ۱٤۰۲ افغانستان و ازبیکستان ص۷

## د لومړي ځل لپاره د افغانستان صادرات ۲ میلیارده ډالرو ته ورسېدل





د صنعت او سـوداګرۍ وزارت، مسئولین وايي چې دغه وزارت په ۱۴۰۱ مالـي کال کې، د هېواد په مرکز او ولایتونو کې، څه د پاسـه ۷۰۴ میلیونـو ۴۸۹ زره افغانـۍ عواید راټول کړي دي.

پـه هغه غونډه کې چـې پرون د حکومت د اطلاعاتو او رسـنیو په مرکز کې جوړه شوې وه؛ د صنعت او تجـارت وزارت مسـئولینو د دغـه وزارت د ۱۴۰۱ مالـي کال مهـم فعالیتونه، لاسـته راوړنې او راتلونکي پلانونه له رسـینو سـره شریک کړل.

په دې غونډه کې د صنعت ۷مخ

## د هېواد په ۲۶ ولایتونو کې د سختو بارانونو او سېلابونو راوتلو اټکل شوی




د افغانسـتان د هوا پېژندنې اداري نن چهارشـنبه په ۲۶ ولایتونو کې د سختو بارانونو واورې او سېلابونو را وتلو اټکل کړی دی. د افغانستان د هـوا پېژندنې ملـي ادارې ويلي چې په دغه ولایتونو کې بدخشان، نورستان، ص۷

## فاریاب کې دوه ښوونځي ګټې اخیستنې ته وسپارل شول




شـریعت: د فاریـاب ولایـت په دولت آبـاد او خواجه سـبز پوش ولسـوالیو کې دوو ښـوونځیو ته ودانۍ جوړې او ګټې اخیسـتنې ته وسپارل شول.

د فاریـاب د پوهنـې ریاسـت مسـوولین وایي، چې دغه ودانۍ د ناروې هېـواد او ځایـي خلکو په مالي مرسـته د څـه باندې ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښـت جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د مسوولینو په وینا، د دغو ودانیو په جوړولو کې د سـیمې اوسېدونکو هـم ۱ میلیـون او ۱۰۰زره افغانۍ مرسته کړې ده.

د یادونـې ور ده، چـې پـه دغو ښـوونځیو کې څـه باندې ۱۳۰۰ زده کوونکـي په زده کـړې بوخت دي، چې لـه دې وراندې د ودانیو د نشـوالي له امله يې په ډاګ زده کړې کولې.

## بدخشان کې ۴۰۰ بې ځایه شویو ماشومانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې



شریعت: د بدخشان ولایت په مرکز فیض آباد ښـار کې د UNHCR موسسـې له لوري ۴۰۰ داخلي بې ځایه شـویو ماشـومانو ته تر پنځم ټولګي د زده کړو زمینه برابره شـوې ده. ۷مخ

## یونسکو در بخش آموزش‌های فنی و حرفوی با وزارت کـار و امـور اجتماعی همـکاری می‌نماید




شـریعت: معیـن وزارت کار و امـور اجتماعـی در دیدار با سرپرسـت دفتر یونسـکو در کابـل، روی چگونگی حمایت از اقشار آسیب‌پذیر در کشور و رونـدِ آموزش‌های... ص۷

## هلمند کې یو ښوونځی، مدرسه او یو روغتیایي مرکز جوړېږي



شـریعت: د هلمند پـه بهرامچې ولسـوالۍ کې د قطر هېواد د شاهي کورنـۍ د غړي په مالي لګښـت د دریو پروژو د بنسـټ ډبره کېښودل شوه.

د هلمند سیمه ییز ... ۷مخ

## پکتیا او پکتیکا کې له څه باندې ۱۱ زره بې وزله کورنیو سره مرسته وشوه



په پکتیـا او پکتیـکا ولایتونو کې د خـوړو نړیوال پروګـرام په مالي ملاتـړ لـه ۱۱ زره ۴۲۲ بې وزله کورنیـو سـره د خوراکـي او غیر خوراکـي توکو مرسـته وشـوه.د پکتیا د کلیو بیارغونـې او پراختیا ریاست مسـوولین وایي، چسې د دغه ولایت په احمد اباد، ډنډ پټان او څمکنیو ولسـوالیو کې پر ۴ زره ۶۲۰ کورنیـو اوره، غوړي، دال او پر ۲۷۰ کورنیو بانـدې روغیتایي کېټونه وویشـل شـول.ورته مهال د پکتیـکا پـه ارګـون او زیروک ولسوالیو کې... ۷مخ

## هیئت ادارهٔ امور: با تکمیل شدن پروژه کانال‌های ترک و خوشک نیمروز، ۵۵ هزار هکتار زمین آبیاری می‌شود



شـریعت: کار پروژه کانال‌های ساحه ترک و خوشک نیمروز از سـوی هیئت مؤظف اداره امور بررسی گردید.

کار ایـن پـروژه ، با شـرکت انکشـاف ملی قرارداد گردیده است . ص۷

## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ژوندلیک او کارنامې

۳مخ

## خوارجو ته د امریکایانو کمپاین!

۲مخ

## د اسلامي امارت د حکومتولۍ معیـار څـه او معـمار یـې څـوك ؟!

۳مخ

## مسلمان جراح (ابوالقاسم زهراوي)

۵ مخ

## سرمقاله

## غصب شوې ځمکې به بېرته چا راګرځولې ؟!


مـوږ چې له تېرو شـلو کلونو راهیسـې د تبلیغاتو ښـکار او په ذهني ډول مغلـوب یو، ډېر هغه څه هـم رانه هېر دي او ورته پام مـو نه دی، چې یو وخت مو په زړونو ارمان او د قربانیو ارمغان بللو .

که یوځل د تېر شـل کلن اشـغال او له هغه مخکـې د خپل منځي جګړو حالت او ناخوالې متصور کړو او ووایو چې هغه وخت مو څه غوښـتل چې باید څه وشي او بیا وګورو چې اوس په کوم حالت کې یو ایا تر ډېره مو هغه ارمانونه پوره شـوي نه دي ؟!؛ بیا به مو سر خلاص او سترګې رڼې شي چې څومره لاسـته راوړنې لرو او د پرمختګ په لور مو څومره مزل کړی !!

د طالبانو اسـلامي تحریک او په تحریک کې بیـا د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد د شـخصیت الهـي لورینه او په ټوله کې اسـلامي امارت زمونږ د ګران هېواد او مسـلمان مجاهد ولس لپاره په رښتیا هم چې تل د نجات او سرلوړۍ سبب ګرځېدلی، خو له بده مرغه بهرنیو مداخلو یې احسان زمونږ په خلکو ورک او کارنامې یې کم رنګه کړې دي .

لـه نورو ډېرو هغو مثبتو کړنو او لاسـته راوړنو به تېر شـو چې په تېر یو کال کې اسلامي امارت لاسته راوړې، یواځې پر یوې به یوڅه وغږېږو، دځمکو د چـور اوتالان د هغـه ناورین په اړه به یې جدیت ته پـام وکړو چې دا تېر شلوېښـت کاله ښـه په خـرت روان و او ډېرو زورورو دعـوه دارانو یې په مخنیوي کې یو فیصد کړنه هم ترسـره نه کړه، بلکـې د همدغو لویو لویو دعوو او نسبتونو سره سره پکې په خپله ښکېل وو. ۲مخ

## کار تحکیم کانال بند کمال‌خان به زودی تکمیل می‌شود



شریعت: مسـؤولان حوزه دریایي هلمنـد می‌گویند کـه کار تحکیم کانـال قلعـه‌ی فتح، اطـراف بند کمال‌خـان جریـان دارد و تلاش می‌نمایند تا مانع از ضایع شدن آب بند کمال خان شوند.

مولوی سـیدمحمد ولی آغا رییس حوزه ی فرعی دریایی... ص۷


## فراه کې د ۳۱ میلیونو افغانیو په لګښت یو استنادي دېوال جوړ شو

شـریعت: د فراه ولایت د بالا بلوک ولسـوالۍ په نوآباد سـیمه کې د ۳۰ میلیونه او ۹۰۰زره افغانیو په لګښت د ۲ کیلو متره په اوږدوالي د استنادي دېوال چارې بشپړې شوې.

د فـراه د ټولګټـو چـارو ریاسـت مسوولین وایي، چې د دغه استنادي دېـوال په جوړېدو سـره ۲ کیلو متره سړک د سېلابونو له ګواښ او د ترافیکو پر مخ له بندېدو څخه خلاصه شو.

د مسؤولینو په وینا، د دغه دېوال چارې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شوې، چې په کې ۱۵۰ کسـانو د کار زمینه برابره شوې وه.

## دایکندي او سرپل کې د نشه يي توکو دوه کارخانې له منځه یوړل شوې



شریعت: د دایکندي ولایت د بندر ولسـوالۍ په سیاه چوب کلي کې د نشـه يي توکو د تولید یوه کارخونه کشف او له منځه ورل شوې ده.

د دایکندي د اسـتخباراتو ریاست مسـوولین وایـي، چـې پـه یاده کارخونه کې هېرويین تولید ۷مخ

## میدان وردګو کې د ۷ کانالونو پاکولو چارې پیل شوې



د میـدان وردګـو ولایت پـه مرکز میدان ښـار کې د افغانستان ټولنیز ملاتړ او معیشیت پروګرام له لوري د څـه باندې ۷ میلیونـو افغانیو په لګښـت ۷ کانالونو د پاکولو چارې پیل شوې.

د دغه ولایت د کلیـو، بیارغونې او پراختیا ریاسـت مسـوولینو باختر آژانس ته وویل، چې دغه ... ۷مخ




## سالمزی

زما نظر دادی چې د روژې مبارکه میاشت د مسلمانانو لپاره یوازینی چانس دی چې الله رب العزت خپلو بنده گانو ته د گناهونو د بښلو لپاره یوه موقع ورکوي چې لومړۍ لس ورځې یې د رحمت دوهمه عشره یې د مغفرت او وروستۍ لس ورځې یې له جهنم څخه د خلاصي او نجات ورځې حسابیږي په دې کې ټولو هغه مؤمنانو ته بښنه کیږي چې په صحیح شکل یې روژه نیولې وي له غیبت څخه یې ځان ساتلی وي، په حلال رزق یې روژه ماته کړې وي، طاعت او عبادت یې کړی وی، داسي نه چې روژه نیسي خو لمونځ په کې نه کوي ځکه چې د لمانځه فرضیت له روژې څخه مخکې دی په دې کې هر فرضي عمل یو په او یادی او هر نفلي عبادت په فرضو حسابیږي موږ او تاسي ټول کمزوري انسانان یو په هره عمل کې هغه رنگ اخلاص چې الله یې له موږ څخه د عمل غوښتنه کوي نه شو ادا کولی او ضرور نیمگړتیاوي په کې موجودې وي د هر روژه ماتي په مهال الله د خپلو بنده گانو یوه دعا ضرور قبلوي د الله(ج) څخه د خپلو گناهونو د مغفرت دعاگانې وغواړو چې الله زموږ په حالت رحم وکړې زموږ عمل ته مه گوره ته په موږ خپل ځانگړی رحم وکړې، او زموږ دانا چیز او نیمگړی عمل او عبادت پخپل دربارکې قبول او منظور کړې د روژې له یوویشتمې څخه تر نهه ویشتمې پورې یوه شپه چې د لیلة القدر په نوم یادیږې چې له زرو میاشتو څخه بهتره ده، په دې میاشت کې الله رب العزت اول آسمان ته راځي او په پیشمني کوونکو باندې رحمت وروي او دعایې قبلوی، نو لازمه ده چې له دغه فرصت څخه عظیمی گټه واخلو عبادت وکړو، قرآنکریم تلاوت کړو له خپلو گاونډیانو او بې وزلو مسلمانانو ورونو، کونډو، یتیمانو او بې سرپرسته خویندو او ورونو سره همکاري او مرسته وکړو په داسي حال کې چې یو گیلاس اوبه او یا هم یوه کجوره به د قیامت په ورځ یو انسان له اور څخه ژغوري. په خپلو شتمنو هېوادوالو هغه که په داخل او یا هم له هېواده بهر دي غږ کوو چې خپل مظلوم هېوادوال له پامه ونه غورځوی، ستاسي یوه یوه روپۍ کولی شي د هغوی ژوند وژغوري چاچې د چا ژوند وژغوره لکه ټول انسانیت چې یې ژغورلی وی په همدې هیله. و من الله توفیق

# د اسلامي امارت د حکومتولی معیار څه او معمار یې څوك؟!

**دوهمه او وروستۍ برخه / جبریل سعد**

د اسلامي امارت دفاع وزارت او رسنۍ وخت پر وخت د نویو جذب شویو او روزنه ور کړل شویو سرتېریو د زدکړو له بشپړولو خبر ور کوي چې د یاد وزارت وروستیو مالوماتو له مخې اوس یې په چوکاټ کې د روزل شویو سرتېریو شمېر ښکته-پورته یونیم سل زرو ته رسېدلی چې پکې د تېر اشغال تپلي رژیم سرتېري هم شته او ښایي هغه به هم وي چې په بهرنیو هېوادونو کې یې زدکړې بشپړې کړې او په دې وروستیو کې هېواد ته را ستانه شوي دي. دا چې له رسنیزې او تبلیغاتي ښودنې ورهاخوا په دومره لنډ وخت کې دغه روزنه او د زېرنده په توگه یې د سرتېریو ورتیاوې او نوی سمبالښت د کوم معیار په چارچوب کې او د کوم معمار د ازماینو، تجربو، ښوونې او روزنې ټاکلي فارمول او نسخې له مخې دي؟؛ پرې څه ویل به له وخته وړاندې وي، خو بیاهم ځینې سرتېري لیدل کېږي چې په لومړۍ برخه کې د یاد شوي معیار او معمار روزنه یې نه ده لیدلې. یو ځل چې د شپې کابل ته رسېدلی وم او له چاسره مې اړیکه نه وه شوې؛ سهار د کاري وخت له پیل مخکې خپل اړوند وزارت ته راغلم، لویه غبرگ موټرېزه دروازه کې یې نه ساتونکی و او نه یې له بشپړ خلاصېدو مانع درلود، د اشغال تپلي رژیم مهال کارمندان او پر سونل چې پرې بې خاره وتل-ننوتل؛ هم یې نه د څومره خلاصولو اړتیا ته کتل او نه یې هم له وتلو-ننوتلو سره لږ بېرته د پورې کولو خوا ته را کشوله.

په کاواکه گامونو د دروازې ساتونکو پسې لاړم، که تر اوږو ښکته ناقانونه وېښتو او له جامو مې د لیپ ټاپ پرسېدلې بکسې شك واخلي او... ټاورونو کې هم څوك نه ښکارېدل، د خوب خونه کې څو تنه ویده ، سر مې پټ کړ او له وزارته وتلم چې د دروازې څنگ ته د ساتونکي مورچې ښیښه یې ور مې ور خلاص کړ، دوه تنه په یوه کټ کې پراته او زه یې لیدلی وم چې دننه تېر شوم. دوه مبائل، غوږۍ یې غوږو کې او ویډیو یې کتله. ویې پوښتلم: څه دي؟ ورته مې کړل: د وزارت پلانۍ برخې همکار یم، له پلاني او پلاني سره که مو اړیکه کې واچولم. وایي: له بازاره اړیکه ورسره ونیسه، لاړم اړیکه او ناشته مې وکړل، نور د وزارت رسمي کاري وخت پیل شوی، خو مراجعین لا نه و راغلي، هغه۱۶-۱۸کلن کشری له کټه را پورته شوی او دروازه کې بیا هم پر مبائل اخته و، د اړیکې مې ورته وویل چې ملگری دننه دی او ورځم. نور چې زه هم یو ځل تېر شوی وم، کارمندان هم وتل-ننوتل او اوس مې هم له ننوتو مخکې متوجې کړ؛ وړاندې روان شوم. ۴۰-۴۵گامه اخیستو سره مې د ولیو منځ کې یو دروند سوك حس کړ او له چپ لاسه مې بکسه هم پر ټول ځواك وځنډل شوه، که گورم همغه خامك د وسلې پر کونداغ وهلی یم او له لاسه یې بکسه کش کړې وایي: نه دې سلامي وکړه، نه دې تلاشي راکړه او یو ځل له رسمي وخت وړاندې تېر شوی وې. ښکنځلیز بمبار کې یې بکسه واخیسته، ترې ومې نیوه، مخ ته یې څپېړه را خوشې کړه، زه د۳۷او۳۹ او هغه د۱۶او۱۸کالو تر منځ او نور حساب او شمار دواړه لا پاتې و چې د استخباراتو معاون پر نوم گواښلو مې ډار پرې سپور کړ او په خپله مخه د ریاست دفتر ته ترې وختلم.

له همدې بکسې، وېښتو او بڼې سره د یوې قول اردو اړوند مجاهدینو د موټرو او موټرسائکلو په رش کې د قول اردو ځانگړې دروازې ساتونکو استوگنځای کې کېناستم، دوی ته چې بیا فوق العاده نابلد ښکارېدم؛ هم نه یې زه او نه یې بکسه پوښتله او وکتله، یواځې د گپ شوقیان چې د نادرو لیدو-اورېدو پر تلوسه یې چای واچاوه... له دننه د ساتونکو پر شمېره زنگ راغی چې عامې دروازې ته ور شم، یو ته مې ویل: هغه بکسه مې... تاسو خو یې گورئ هم نه در ونه چاودي، پر منډه او سختې وارخطایۍ یې وکتله، په خندا مې ورته ویل: له دومره نابلدۍ سره مې تاسو بیا هم زما له وینا پرته نه کتله، دښمن خو بیا نه درته وایي، نو... عامه دروازه کې له دې په توپیر، خو بیا هم نامطلوب چلند سره مخ شوم، دروازه هم عامه او راته مخامخ وسلوال تن ترې دوه متره را بهر او وچ د لارې منځ کې هم ناست دی، له سلام سره مې ورته ویل: یو ملگري مې زنگ... خبره یې را پرې کړه وایي: مولوي صاحب در ازاد شه ولم دې، زما دماغ کار نکوي، پرm-٤یې گوتې ووهلې، ورته ومې خندل... له غبرگون، څیرې او برگې لنگوټې مې له یوې نرۍ شرمه، وارخطایۍ او سوچونو سره له چوکۍ آخوا شو، وسله یې کېښوده او ازاد ودرېد. شېبه وروسته بې یو پخوانی شناخته قول اردو ته ننوت؛ له هر ډول پوښتنې، تلاشۍ او خنډ پرته ورسره ننوتلم.

د عامه نظم مختل او گډوډونکو او د جهاد برم او د مجاهد وقار او عزم نړونکو بې نزاکتیو دا ډول څو نورې بېلگې مې هم له ښار پرته یواځې پر عامه لاره او یو ځل سفر کې ولیدې او که څه هم نه پوهېږم نور به لا څه وي؟ خو له همدې مې درك کړه او اوس هم که وپلټل شي تر دغه حده په پرتلیز اټکل هم پوهېږو چې دوی باید د یو سرتېري په توگه له ور کړل شوي صلاحیت، ارزښت، رتبې او دندې سره سم یواځې د اصولي، لائحوي او د اړوندو مقاماتو لخوا د وخت پر وخت متناسبو لارښوونو پر اطاعت یواځې سرتېری واوسي، اصولي او لائحوي لارښوونو ته یې هم له همدې حیثیت سره غوږ ونیول شي او په پام کې وساتلې شي او شېبه پر شېبه بیاهم له همدې اصولو، لائحې او مقاماتو سره په اړیکه کې شي، نه دا چې د یو آمر په حیث خپل سرې پرېکړې وکړي، پکې اطاعت یې لازم او فکر یې عام کړل شي، ځکه تر اوسه هم د اقتدار زېرنده، د اشغال تپلي رژیم او له هېواد او د اسلامي امارت له معیاره بهر روزل شوي سرتېري په دې آمریت کې پاتې راغلي چې د یاد معیار او معمار روزنې ته لومړی زیان رسوي او بیا کرار یې هر ډول اغېز ته هم د پای ټکی ږدي. د تېر وسلوال جهاد پر مهال چې په کومو بڼو-جامو-نومونو د اشغالگرو جاسوسانو مجاهدین تعقیبول، پر څه چې مجاهدینو هغوی پېژندل او کوم تدابیر او په کومو نقاطو کې چې یې ورسره مقاومت درلود؛ همغه د پردیو جاسوسان پر همغو بڼو-جامو-نومونو نن پروژیي بریدگر دي، خو ورسره د مقاومت پر اوسنیو نقاطو چې چیك پوائنټونه، دروازې او د ساتمنۍ نور نقاط او بستونه دي؛ همدغه بې معیار او بې معماره روزلي ولاړ وي چې نه د پرونیو جاسوسانو او نننیو بریدگرو نښې پېژني، نه یې پر وړاندې تدبیر باندې پوهېږي او نه هم آن(پر دوه لوریز معاش د پټ ملگري په حیث)حساسیت لا ورسره لري چې د بلخ ولایت پر مقام برید، د هغه د وروستیو پلټنو پایلې او مدلولات یې د دې لنډ وخت ښه او څرگند مثال دی.

په ټوله کې دلته یواځې د پوځي برخې یادونه په خپل ځان کې یوه بېلگه ده چې وښیو-وپوهېږو د اسلامي امارت د حکومتولۍ معیار څه او معمار یې څوك دی؟!

ترڅو د پوځي، اداري او ملکي ټولو په را نغښتلو د بشپړې حکومتولۍ یوه خاکه وي او د دې لپاره په نظام کې د تصفیې ترڅنگ د یاد ځانگړي معیار او معمار روزنې په ښه ډول پلي کول او بیا له هغې سربېره د ذوق پر تله او بنسټ اهلیت او وړتیا د هرې دندې او نوماند لپاره تر بسې اړین دي، بلکې لا که تصفیه تر بې معیاره روزنې او بې معیاره-د غیر اهل-تمایلاتي گمارنو ور وغځوله شي، ترڅو له دې هم لیکې پاکې شي؛ د هېواد، ولس، اسلامي امارت او تاریخ د ځانگړنو په څېر به د حکومتولۍ معیار او معمار هم داسې وي چې نه یې نور هېوادونه او ملتونه ولري او نه یې ولرلای شي.

# خوارجو ته د امریکایانو کمپاین!

**س.سعید غلجي**

ورمه ورځ زلمي خلیلزاد په څو پرلپسې ټویټونو کې وویل: «په بلخ کې د داعشیانو د لوړ پوړو مشرانو وژل په شمال کې داعش ته لوی گزار دی، طالبانو د دوحې په توافق کې ژمنه کړې وه، چې د داعش خلاف به مبارزه کوي، که دغه خبر تأیید شي، نو معلومیږي چې طالبان د دوحې توافق یادې مادې ته ژمن دي، امریکا او طالبان باید نور هم د دوه اړخیزو گټو مطابق خپل منځي تعامل زیات کړي»

د خلیلزاد دا خبرې له الفه تر یا؛ درواغ او له منافقته ډکې دي. نوموړی د طالبانو له لورې د داعش وژلو کریډیټ هم په یو ډول امریکا ته منسوبوي او نړۍ ته ښایي چې موږ د داعش خلاف دومره جدي یو، چې د دوحې توافق کې مو هم له طالبانو دا ژمنه اخیستې، چې د داعش خلاف به مبارزه کوي. حال دا چې تړون کې داسې هیڅ څه نشته، هلته فقط په عمومي توگه یادونه شوې، چې ترهگرو ډلو ته به په افغانستان کې د فعالیت اجازه نه ورکول کیږي او نه به ورسره همکاري کیږي.

خو حقیقت دا دی، چې طالبانو هاغه وخت لا د داعشي خوارجو خلاف مبارزه کوله، چې امریکایانو به خوارجو ته اکمالات کول او د جگړې پر مهال به یې د طالبانو لیکې بمبارولې. تاریخ هاغه ټولې صحنې ثبت کړې، چې ننگرهار کې به پر ځمکه خوارج او له پاسه به امریکایان په گډه د طالبانو خلاف جنگېدل. تاریخ هغه واقعه هم ثبت کړې، چې طالبانو د جوزجان په درزاب کې په سلگونو داعشي خوارج سخت محاصره کړي وو، خو امریکایي الوتکې راغلې او د محاصرې له منځه یې خوارج پورته کړل، بیا یې اعلان وکړ، چې دوی د کابل ادارې ته تسلیم شوي وو!! دغه راز؛ خلیلزاد دې هغه ویډیو هم وگوري، چې په بلخ کې د همدغو داعشي خوارجو په پټنځای کې څومره ډالر موجود وو؟

نو ټوله نړۍ پوهیږي، چې د داعشیانو ملگري څوک دي، څوک یې مرسته کوي او څوک ورته کمپاین کوي؟

د خلیلزاد دغه ټویټ هم د داعش لپاره یو ډېر لوی کمپاین دی، دی خوارجو ته دا دلیل په لاس ورکوي، چې گویا طالبانو او امریکا په دوحه کې د داعشیانو ځپلو توافق کړی او دواړه په گډه د داعش خلاف هڅې کوي. نو خوارج به د خلکو په دوکه کولو کې همدا خبره دلیل نیسي، چې امریکا او طالبان سره ملگري دي، او په گډه زموږ خلاف جنگیږي. د خلیلزاد د څرگندونو اصلي هدف همدا دی، چې یو خوا نړیوالو ته ځان د داعش خلاف وښايي او بل خوا داعشیانو ته کمپاین وکړي او پورتنی جعلي دلیل په لاس ورکړي.

د تېرې اداري پر مهال هم گڼ شمېر چارواکو او خپله امریکایي او اروپایي سیاستوالو څو څو ځله اعترافات وکړل، چې داعش د امریکا پروژه ده او په ړنا ورځ اکمالات ورته کوي. دغه راز؛ امریکایان هم همېشه داسې څرگندونې کوي، چې داعشیانو ته د کمپاین سبب گرځي. کله وایي چې طالبانو د داعشیانو د ځپلو ژمنه راسره کړې، کله وایي چې د داعشیانو شمېر ډېر زیات شوی، کله وایي چې د داعش له خوا د قوي حملو خطر دی او کله نورې بابولالې.

دا چې دلته امریکا له ډېرو زیاتو مصارفو او زیانونو گاللو سره سره، بیا هم بالآخره له ډېر ذلیل شکست سره مخ شوه او په نړیواله سطحه یې حیثیت خاورې شو، نو ځکه اوس لگیا دي، تش په نوم مقاومتیانو او خوارجو ته کمپاین او تبلیغات کوي.

هر ژمی د رسنیو له لارې خلکو کې ترهه خپروي، چې راتلونکی پسرلی به مقاومتیان او داعشیان ډېر لوی بریدونه وکړي او سیمې به لاندې کړي. خو الحمدلله، دلته پردیو ډلو ته هیڅ ځای نشته. دلته چې د امریکا سوپر طاقت صفر شو، نو دغه وړې ډلې خو هیڅ د بحث وړ نه دي. سمه ده، د امریکایي ډالرو په بدل کې به یو څه تخریبي او تروریستي اعمال تر سره کړي، خو عموماً یو اسلامي امارت ته خطر نه شي بلل کېدای.

کومه ډله چې د ولس د عقایدو او کلتور خلاف وي، هغه ډله هیڅکله نه کامیابیږي. څلور لسیزې وړاندې ځینو کم عقلو افغانانو د کمونیزم په نامه یوه داسې پردۍ نظریه هېواد ته راوړه، چې هغه مطلق د افغان ولس له دین او کلتور سره خلاف وه، افغاني کمونستانو او شورویانو ډېره هڅه وکړه، چې دغه نظریه پر افغان ولس هم ومني، خو بالآخره یې داسې ذیل شکست وخوړ، چې تقریباً له ټولې نړۍ د کمونیزم نوم ورک شو. دوه لسیزې وړاندې د امریکا په مشرۍ ځینو صلیبیانو او د هغوی افغاني نوکرانو د ډیموکراسي په نوم یوه بله پردۍ مفکوره راوړه، خو بالآخره له ډېرو سختو ځاني او مالي تلفاتو سره سره، ډیموکراسي هم ناکام شوه.

خو برعکس، مجاهدینو په نشت امکاناتو دواړو امپراتوریو ته ماته ورکړه. دا ځکه چې مجاهدین د ولس له منځه راپورته شوي او د ولس د دیني او ملي ارزښتونو ساتونکي او مدافعین وو. همدې ولس خپله ډوډۍ ورسره نیمه کړه، هر خطر یې پر ځان ومانه، وسله او خرڅ یې ورکاوه او شپه یې ورکوله. نو داعشي خوارج او مقاومتي باغیان هم د کمونستانو او دیموکراتانو په شان په ولس کې هیڅ ځای او محبوبیت نه لري، یوې داسې پردۍ مفکورې ته کار کوي، چې افغان ولس ته هیڅکله د منلو نه ده. افغان ولس مطلق حنفي مذهبه دی، خو داعشي خوارج د یو معین مذهب مقلدین مشرکین گڼي. دغه راز؛ افغان ولس عموماً رحم دله دی، خو دوی داسې وحشي کړنې تر سره کوي، چې هیڅ انسان ته د منلو نه دي. همدا شان مقاومتي باغیان هم د خپل بغاوت لپاره هیڅ دلیل نه لري، یوازې د دې لپاره مخالفت کوي، چې شخصي گټې یې له منځه ولاړې. خو دا چې اوس دلته د افغان ولس د زامنو په قربانۍ یو داسې سوچه اسلامي نظام قائم دی، چې د افغانانو ټول دیني او ملي ارزښتونه پکې خوندي دي، نو ځکه افغان ولس هیڅا ته دا اجازه نه ورکوي، چې د دغه پاک نظام خلاف بغاوت وکړي.

خلاصه دا چې مقاومتیانو او داعشیانو ته د امریکایانو کمپاین هیڅ نتیجه نه لري، ان شاء الله. البته څرنگه چې دوی دغو مخربینو ته کمپاین کوي، همدغه شان زموږ اهل قلم او اهل بیان ملگري هم باید د دوی دغه خباثت ټول ولس او نړۍ ته واضح کړي، له خوارجو سره د دوی د ملگرتیا ثبوتونه دې ټولې نړۍ ته وښایي او له هرې ممکنه لارې باید د امریکایانو او د هغوی د نوکرانو (خوارجو او مقاومتیانو) ناوړه دسیسې خلکو ته افشاء کړي. تر څو د دوی هغه کم خطر هم په بشپړه توگه له منځه ولاړ شي. ان شاء الله!

## غصب شوې ځمکې...

د دولتي ځمکو دغصب د مخنیوي او استرداد لوړ پوړې کمېسیون په دې وروستیو کې په یو لړ جدي هڅو لاس پورې کړی، د هېواد د مرکز په شمول په ټولو ولایاتو کې قاطع ماموریت ترسره کوي او هره ورځ په زرگونو جریبه غصب شوې ځمکه بېرته راگرځوي ، دا هغه چاره ده چې ناشونې بلل کېده او زموږ ولس ته په یوه رواني ناروغۍ بدله شوې وه . خو الحمد لله چې اسلامي امارت دې کار ته په ټوله معنی متوجه شو دا چاره یې په خپلو لومړیتوبونو کې راوسته اود ځمکو دغصب دمخنیوي ښه باصلاحیته کمېسیون یې ورته ټاکلی. د یادکمېسیون غړي داسلامي امارت لوړ رتبه مسؤلین دي چې د هېواد لرې پرتو سیمو ته په ډېر اهتمام او جدیت سفرونه کوي او په خپل دغه کار کې له خورا دقت او تحقیق څخه کار اخلي.

مونږ په داسې حال کې چې د اسلامي امارت دغه کړنه ستایو او د ولس دغږ ځواب یې بولو ، اسلامي امارت ته د هېواد ساتنې په دغه ډول ټولو اقداماتو کې لابری غواړو، هیله کوو چې دغه پروسه په لا جدیت تر وروستي حده تعقیب، غاصبینو ته سزا او مستحقینو ته خپل حق ور ورسوي .

# د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) ژوندلیک او کارنامې

**ترتیب او راټولونه: د فرهنګي چارو کمیسیون د تاریخ څانګه**

شیخ الحدیث مولوي هبة اللـه اخند زاده د شیخ مولوي محمـد خـان زوی او د مولانا خدای رحیم صاحب لمسـی پـه کال۱۳۸۷ هـ ق درجب المرجب دمیاشـتي په ۱۵ نیټه د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د ناخوني کلي پـه یوې علمي متدینـي کورنۍ کې نړۍ ته سـترګې وغړولې او د ژوند لومړنۍ مرحله د خپل والدصاحب ترعلمـي پالنې او روزنې لاندې تیره کړه .

**کورنۍ یې:**

د شیخ صاحب علمي کورنۍ د سیمې په کچه له پیړیو ، پیړیـو را هیسې په علم ، فضیلت او تقوا کې شهرت لرلی.

د یـادې علمـي کورنـۍ اصـلي مسـکن د افغانسـتان په جنوب لویدیـځ کندهار ولایت کې د تخت پل ولسـوالۍ ده ، چې وروسـته د کندهار ولایت پنجوایي ولسـوالۍ ته نقل شوې او خپله شیخ هبة الله اخند زاده صاحب تولد هم د پنجوایي ولسـوالۍ په ناخوني کلي کې شوی دی .

والد صاحب یې شـیخ مولوي محمد خان د خپلو همعصره علماوو په منځ کې په علمي او فقهي لحاظ تر ټولو مشهور علمي شخصیت او په خپلـه ټولنه کې لـه ځانګړي علمي او ټولنیز اعتبار څخه بر خمن و.

نوموړي د یوه دیني عالم په حیث د سـیمې د خلګو په علمي روزنې او اصلاح کې ځانګړی رول درلـود ، په خپل محیط کې یې د تدریس ، تبلیغ ، دعوت او اصلاح دنده پرمخ وړله او ډیر علمي شـاګردان یې د دیـن د خدمت او دفاع لپاره روزلي ول .

په کال ۱۳۵۷ هـ ش کې چې کله کمونستانو د نورمحمـد تره کي په مـشري کودتا وکړه او د هیواد پر سـیاسي اقتدار یې منګولې ولګولې شـیخ مولوي محمد خان صاحـب د خپلې سـیمې په کچه دهغولومړنیو جهادي عالمانو له جملې څخه و چې د کمونستانو او د هغوی د الحادي واکمنۍ پرخلاف یې قیام وکړ ، او د سیمې مسلمان اوسیدونکي چې وار تر پخوا د شیخ صاحب له اسـلامي روزنې او دعوت څخه متأثـر ول په دغه جهـادي قیام کې د نوموړي تر شا ودریدل .

هماغـه و چې دا کار ملحدو کمونیسـتانو د خپلې نوي واکمنۍ پرخـلاف تهدید وباله او د سـیمې د جهادي قیام د اصلي محرک شیخ صاحب محمد خان د له منځه وړلو په فکر کې شول.

د الحـادي حکومت امنیتي ځواکونه د شـیخ صاحب د اسـارت او نیولو لپـاره د نوموړي کور او مدرسـې ته راغلل ، خو شیخ صاحب ته الله تعالی نجات ورکـړ او وړاندې تر دې چې هغوي یې داسـارت هڅه وکړي شیخ صاحـب د کندهار ولایت د ریګ سـیمې ته مهاجر او هلته یې د نورو مجاهدینو په ملتیا د کمونیستانو پر خلاف مبارزه پیل کړه.

په کندهار ولایت کې د جهـادي مقاومت په پراخـوالي او تدریجي بریالیتوب سره شـیخ مولوي محمد خان صاحب بیرته ولس میشته سـیموته راغـی او د ژوند تر پایـه یې خپل جهادي او علمي خدمت جاري وساته .

شیخ هبة الله اخندزاده دوالد صاحب تر وفات وروسته په سیمې باندې د شوروي اشغالګرو د وحشـیانه مظالمو له وجـې د هیواد د نورو سـلګو نو زره هیواد والو په جمله کې د خپل کلي او کور پریښـودلو ته اړ او ګاونډی هیواد پاکستان ته مهاجر شو او هلته یې د بلوچستان سرحـدي ایالت د ځنـګل پیر عـلي زي په مهاجر کیمپ کـې د نورو هیواد والو ترڅنګ د خپـل هیـواد د آزادي او په هغـه کې د یوه اسلامي حاکمیت د راتللو په غرض د هجرت ترخې لحظې پرځان ومنلې.

دیني زده کړې یې

شـیخ هبة الله صاحب د خپل پـلار د نارینه اولادونـو په منـځ کې دویـم اولاد و چې د دینـي علومو د زدکړو پیل یې هم له خپل والد صاحب څخه وکړ، د قرآن کریم قرائت، فقهي اولیات ، صرف ، نحـو ، عربي ادب ، معاني او اصول الفقه یې تر منځنۍ دورې پورې له خپل والد صاحب څخه وویل .

تر هغه وروسـته یې د لـوړو شرعي زده کړو د حصول لپاره د سـیمې مشـهورو مدارسو اوجامعاتو ته مخه کړه .

هلته یې ټول مروجه علمي فنون بشپړ او په کال ۱۴۱۱ هـ ق کې د سـیمه په کچه په مشهور و عالمانو شـیخ الحدیث مولوي محمد جان اغا صاحب او شـیخ الحدیث مولوي حبیب الله صاحب باندې د احادیثو نهایي دوره پایته ورسـوله او د لوړو شرعي زده کړو د اکمال په غرض یې د فضیلت دستار پر سرکړ.

**جهاد او سیاسي مبارزه یې :**

کوم مهال چې شـیخ صاحب د دیني زده کړو د وروسـتۍ مرحلې په درشل کې و، په هیواد کې د شوروي اشغالګرو په مقابل کې د وسله وال مقاومت سنګرونه ډیر ګرم ول.

دا داسـې وخت و چې د هـر افغان په تیره په علمـي کورنیـو او حلقاتو پـوري تړلیو نویو ځوانانو ډیره لیوالتیا دې ته وه چې په جهادي جبهاتو کې له شوروي اشـغالګرو او داخلي کمونیستانو سره جهاد وکړي .

شـیخ هبة الله صاحب چې له اصله یې په یوې علمي او جهـادي کورنۍ پوري تعلق و تر بل هرچا ډیر له شوروي یرغلګرو او داخلي کمونیسـتانو سره د جهـادي او فکري مقابلې لیـوال و. تر دې چې نوموړي د خپلو زده کړو او تعلیم پـر مهال هم جبهې تـه د تللو لپاره مهال ویش جوړ کړی و.

نوموړی به د مدارسو په کلنۍ رخصتي کې د کندهار ولایت د مشـهور جهادي قوماندان ملا حاجـي محمد اخند جبهې تـه تلو او هلته به یې عملا له شـوروي یرغلګرو سره په جهادي مقاومت کې برخه اخیسته .

د ملا حاجي محمد اخند جهادي جبهه د هیواد د جنوب غرب په سـطحه مشـهوره جبهه وه چې په هغې کې د شـهید امیـر المؤمنین ملا اختر محمد (منصور) په شـمول د طالبانو ډیر و نورو مهمو مسـؤلینو لکه د اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال الحاج ملا محمد حسـن اخوند او نورو ګڼو مسؤلینو شمولیت درلود.

یـادي جبهې د جهاد په اوائلـو کې د مرحوم مولوي محمـد نبي (محمدي) پـه مشرۍ په حرکـت انقلاب اسـلامي تنظیم پـوري تړاو درلود، وروسـته بیا د مرحـوم مولوي محمد یونس (خالص) په مشرۍ حزب اسلامي پوري مربوط شوه.

شـیخ هبة الله صاحب د دې جهادي جبهې له مهمو غړیو څخه داسې یو شخصیت و چې د جبهې د غړیـو او مجاهدینو په منځ کې هم له ښه جهادي حیثیت نه برخمن و او هم له علمي حیثیت نه .

نوموړي له شوروي اشغالګرو سره د مقابلې په مهال د اسـلامي امارت له دواړو مشرانو، امیر المؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد) او شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد (منصور) سره عملا د مجاهدینو په مشـترکو پوځـي مرکزونو کې برخه اخیستې او یوځل زخمي شوی هم دی.

هغـه مهال چې په جنوب غـرب حوزه په تیره کندهار ولایت کې به مجاهدینود خپلو جهادي محاذونو او جبهاتودمربوطه ګروپونو مرکزونو ته د اطاق اصطلاح کاروله شـیخ صاحب به کله ناکله داطاق سرپرسـتي هم کوله ، خوډیر وخـت به یـې په جهـادي چـارو او تر هغه راوروسـته د مجاهدینـو په علمي ښـونې او روزنې کې تیریدو .

شیخ صاحب په جهادي جبهاتو کې د مشارکت پرمهـال هـم ډیر تر کیـز پردې خـبرې کاوه چې مجاهدین باید د الحـاد ، او نورو باطلو مفکورو په وړاندې پـه علمي او فکري لحاظ وروزل شي ؛ ځکه ملحدو کمونیسـتانو او د هغوي حامي شورویانو زموږ پرهیواد د پوځي یرغل ترڅنګ فکري یرغل هم کړی ، او په ډیرو حالاتـو کې د فکري یرغل مقابله د پوځي هغه په نسبت ډیره مهمه او ضروري وي .

همدا وجه وه چې شیخ صاحب به هم په جبهه او هم په مدرسـه کې د مجاهدینـو په فکري روزنې ډیـر اهتمام درلود او پـه دې اړه یې په خپل وخت کې د پاموړ فعالیت تر سره کړی.

**په شرعي علومو کې یې درسي تفوق :**

شیخ صاحب هبة الله د شرعي علومو په تیره د فقه ، اصول الفقه ،تفسیر او حدیثو په تدریس کې ځانګړې مهارت او استعداد لري.

پـه کال ۱۴۱۱ هـ ق کـې د فراغت له مهاله تر اوسـه پورې یې له نورو ټولـو جهادي او وظیفـوي مصروفیتونو سره سره د یادو علومو تدریس جاري سـاتلی او په ډیر زیات تعداد شاګردان یې په دې برخه کې روزلي.

نوموړی ته چې د شیخ لقب ورکړل شوی هم لامل یې دادی چې د صحاح سـته او اصول الحدیـث په تدریـس کې برلاس لـري او د احادیثو د تدریس سـند یې د شـیخ الحدیث مولـوي محمـد جـان اغا صاحب او شـیخ الحدیث مولوي حبیـب الله صاحب له لاري په متصل سـند سره تر رسـول اکرم صلی الله علیه وسلم پوري رسیږي.

د طالبانو په اسلامي تحریک یې تأسیسي رول : له افغانستان څخه د شوروي اشغالګرو تر وتلو او بیا د کمونیستي نظام تر سقوط وروسته چې کله په هیواد کې تنظیمي جګړې پیل شـوي ، شیخ صاحب هبة الله د خپلې جبهې د نورو غړیو پـه څیر له جنګ جګـړو لیري په خپلو علمي او اصلاحي فعالیتونو مصروف شو.

سره لـه دې چې کندهار ولایـت د تنظیمي جګـړو ډګـر او د پخوانیـو تنظیمونـو ډیری قومندانان ورکې اخته شول خو شیخ صاحب د یوې جهادي جبهې د علمي استاد او مربي په حیث له همدغـو تنظیمي جګړو څخه خپلو علمي او اصلاحي فعالیتونو ته مخه کړه.

کله چې د تنظیمي جګړو او فساد په مقابل کې د مرحـوم ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبانو اسـلامي تحریک رامنځ ته شـو شیخ صاحب هبة الله د دې تحریک د مؤسس د یوه جهادي ملګري په حیـث د تحریک له پیل نه دهغه ترڅنګ ودریده.

په جنـوب لویدیځه حـوزه کـې د طالبانو اسـلامي تحریک تر پرمختګ او په یاده حوزه کـې د تحریـک د مشر تابـه لخـوا د اداري تشکیلاتو په سلسله کې په کندهار ولایت کې د نظامي محکمې اداره هم جوړه شوه .

په یادې محکمې کې د هیواد په کچه مشـهور علمي او مسـلکي اشخاص راغونډ کړل شول چې دهغوی له جملې نه یوهم شـیخ صاحب هبة اللـه و چې د تحریک مـشر تابه د جهاد په مهال کې په ښـه علمیت ، فقاهت او تقوی سره پیژانده .

**د نظامي محکمې د رئیس په توګه :**

پـه کال ۱۹۹۶ م چې مرکز کابل د اسـلامي امـارت د ځواکونو تر ولکـې لاندې راغی نو شـیخ صاحب د مرحوم امیـر المؤ منین ملا محمد عمر (مجاهد) د یوه ځانګړې فرمان له مخې په کابل کې د نظامي محکمې د رئیس په حیث وټاکل شو.

په کابـل کې د نظامي محکمې تـر تنظیم او په هغې کې تـر مطلوبو اصلاحاتو راوسـتلو وروسـته په شرقـي زون کې ورتـه د نظامي محکمې مسؤلیت وسپارل شو.

په شرقـي زون په تیره ننګرهـار ولایت کې د نظامـي محکمې اړوند تر ترتیـب او هلته تر دوه کلن فعالیت وروسته بیرته د امیر المؤمنین ملامحمـد عمر(مجاهـد) په حکـم کابل ته راغـی او هلته د اسـلامي امارت د واکمنۍ تر اخیره د نظامي محکمې د مسـؤل په حیث پاتې شو.

د شـیخ صاحب علمي کورنۍ د سـیمې په کچه له پیړیو ، پیړیو را هیسې په علم ، فضیلت او تقوا کې شهرت لرلی.
د یادې علمي کورنۍ اصلي مسکن د افغانستان په جنوب لویدیځ کندهار ولایت کې د تخت پل ولسوالۍ ده ، چې وروسـته د کندهار ولایت پنجوایي ولسوالۍ ته نقل شوې او خپله شیخ هبة الله اخند زاده صاحب تولد هم د پنجوایي ولسوالۍ په ناخوني کلي کې شوی دی .
والد صاحب یې شیخ مولوي محمد خان د خپلو همعصره علماوو په منځ کې په علمي او فقهي لحاظ تر ټولو مشهور علمي شخصیت او په خپله ټولنه کې له ځانګړي علمي او ټولنیز اعتبار څخه بر خمن و.
نوموړي د یوه دیني عالم په حیث د سیمې د خلګو په علمي روزنې او اصلاح کې ځانګړی رول درلود ، په خپل محیط کې یې د تدریس ، تبلیغ ، دعوت او اصلاح دنده پرمخ وړله او ډیر علمي شاګردان یې د دین د خدمت او دفاع لپاره روزلي ول .

**ولې د نظامي محکمې مسؤلیت؟**

د اسـلامي امارت د واکمنۍ یو سـتر امتیاز په افغانستان کې د امن تأمین و.

د اسـلامي امارت د واکمنـي د وخت د مثالي امن ټینګښـت هغه ښـکاره حقیقت دی چې دښمنان هم ورباندې اعتراف لري.

د امـن په تأمیـن کې د نظام د نـورې اصلاح ترڅنګ د حدود الله د تنفیذ ځانګړی اثر و.

هغـه مهال چې د اسـلامي امـارت ټول نظام او دهغـوی اداري، امنیتـي ، قضایي او عدلي مسـؤلین د کار او تجربې لـه لحاظه هم ټول نوي او امنیتي امکانات یې هم بلکل په نشت حسـاب ، خو یواځې همدا د شرعي حدودو د تنفیـذ برکت و چې په هغـه هیواد کې چې دوې لسـیزې ورکې جګړې او نا امنۍ تیرې شوې وې داسـې امن تأمین کړي چې دوست او دښمن ټول وربانديې اعتراف لري .

دخدای په ځمکه کې شرعي حدودو تأمین هم هغه وخت د امن د ټینګښت لامل ګرځي چې تنفیذ یې د شرعـي احکامو مطابق وي. همدا لامل و چې اسـلامي امارت ډیر ترکیز پر دې و چې د قضـائي او عدلي اداراتو په رأس کې د اسـې اهل او په شرعي امورو خبیر کسـان وګماري چې د قرآن او حدیث او شرعي علومو په رڼاکې د شرعي حدودو له تنفیذ سره بلد او د هغو له فلسفې خبر وي.

په اسـلامي امارت کې د حدودو د تنفیذ ټول مسـؤلیت شرعي محاکمو ته سپارل شوی و او په جهادي جبهاتو او محاذونو کې د نظامي او امنیتـي ځواکونـود اصـلاح، او مواخذې مسـؤلیت بیا په ځانګړې ډول نظامي محکمې ته سپارل شوی و .

لهذا د نظامي محکمې د مسؤلیت لپاره ایجاب کیدو چې داسې یوشخص انتخاب کړای شي چـې هغه هم لـه شرعي او هم له مسـلکي لحاظه د دغه اهم تنفیذي مسـؤلیت صلاحیت ولري.

له بله اړخه پـر مهمو تنفیذي وظائفو باندې د ګمارلو لپاره دوه شیان مهم دي:

**جهادي سابقه او علمیت:**

شـیخ هبة اللـه صاحب د خپلو هم مسـلکه معاصرینو په اعتراف لـه دغودواړو امتیازاتو برخمن و.

همـدا وجه وه چې نومـوړی د امیر المؤمنین لخوا د نظامي محکمې غونډې مهم او حساس مسؤلیت ته انتخاب کړای شو.

**د مرحـوم امیـر المؤمنین پـه دې انتخاب کې ځینې مهم مصلحتونه نغښـتي ول چې لاندې ورته اشاره کیږي:**

پـه پلازمینه کابل کې نظامـي محکمه هغه تر ټولـو مهمـه اداره وه چې د حـدودو د تنفیذ صلاحیت ورته ورکړل شوی و.

د حدودو تنفیذ لکه څومره چې مهم او د ټولنې د اصلاح لامل ګرځي په هماغه اندازه د متنفذ لوري علمیت ، فقاهت ، سـنجیدګي او دقت ته ضرورت لري.

همدا راز د حدودو تنفیذوونکی شخص باید د پورتنیو صفاتو ترڅنګ له پوره انساني عاطفې او خواخوږې څخه هـم برخمن وي .مرحوم امیر المؤمنین دغه امتیازي مشخصات په شیخ صاحب کې له وړاندې حس کړي و؛ ځکه یې ورته دغه مهم مسـؤلیت وسپاره. همدا وجه وه چې کله به هـم په نظامي محکمې کې د هغې د مسلکي قاضیانو او مفتیانو لخوا د ځینو محکومینـو په اړه د قصاص حکم پلې کیدو نو ترټولو لومړی به شـخصا شـیخ صاحب هبة اللـه د مقتول له وارثینو څخـه د قاتل لپاره د بښنې غوښتنه کوله ، هغوي ته به یې په اسلامي شریعت کـې د قاتل د عفو کولـو په اړه الهي ارشـادات او نبوي احادیث ذکرکول او په ډیر الحـاح به یې له هغوي څخه د قاتل د بښـنې غوښتنه کوله .

په دې کار کـې به یې د قصـاص صحنې ته له حاضر شـویو نورو مشرانو او سـپین ږیرو علماوو څخه هم مرسته غوښـته او هغوی به یـې د مقتول وارثینو ته د شـفاعت په غرض وروستلو چې قاتل ته عفو وکړي .

نوموړي بـه د مقتول له وارثینـو څخه د یوه حکومتي مسـؤل په حیث نـه ؛ بلکې د یوه مذهبي عـالم او مخور په حیث د قاتل د عفو کولو غوښتنه کوله ، چې ډیر ځله د ده د همدې عاطفي هلو ځلو له برکته په قصاص محکوم شوی کسان د مقتولینو د کورنیو لخوا عفو او د نوي ژوند څښتنان شول.

همداراز په جنایي جرمونو کې د ښکیلو کسانو په اړه به چـې کله اړونده قاضیانو کوم حکم کاوه نو د هغه حکم په اثبات کې به یې د فقهي مقرراتو اواصولـو د رعایت خپل ټول بشري تـوان کاراوه او د الحدودُ تُندرءُ بالشـبهات شرعي قاعدې له مخې به یې د امکان تر حده د هغو حدودو د عدم تنفیذ لارو چاروته زمینه سازي کوله.

له پورتني حقیقت څخه دا جوتیږي چې شیخ صاحـب هبة الله هم د اسـلامي امارت د واکمنـۍ په مهال په یوه با صلاحیته قضایي ارګان کـې د شرعي احکامـو په تطبیق کې د یوه نهایي محتاط ، سنجیده او عاطفه لرونکي خواخوږي مسـئول په توګـه خپل رول سرته رسـولی او هـم اوس د هماغـو صفاتـو په درلودلو سره د اسلامي امارت د امیر په توګه د جهادي او نورو ټولو شرعي چارو پلې کیدو ته د شرعي مقرراتو په محدوده کې متعهد او ژمن دی .

**د اشغالګرو په وړاندې د دوباره جهاد په پیلولو کې یې مهم رول:**

پاتې ۴مخ

# د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) ژوندلیک...

په کال ۲۰۰۱ کې کله چې امریکایي یرغلګرو د خپلو غربي ایتلافیانو په ملتیا پر افغانستان یرغل وکړ او د اسلامي امارت مشر تابه له تکتیکي وقفې وروسته د یرغلګرو په وړاندې د مجاهدینو دوباره تنظیم او انسجام پیل کړ شیخ هبة الله اخندزاده صاحب د نورو مسؤلینو په ملتیا د جهاد او اعداد په دې حساسه مرحله کې خپل ځانګړی مؤثر رول درلود.

هغه مهال چې د امریکایي یرغلګرو د زیات تعقیب او څارنې له امله د هرډول جهادي فعالیت تر سره کول تقریبا ناشونی ګڼل کیدو خو شیخ صاحب هبة الله د څو تنو نورو مجاهدو شیوخو او علماوو په ملتیا د هیواد په دې حساس پړاو کې د مجاهدینو په تنظیم او ترتیب کې نه ستړي کیدونکي هلې ځلې وکړي.

مرحوم شیخ صاحب غلام حیدر، شهید شیخ صاحب عبدالسلام او محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حفظه الله له شیخ صاحب هبة الله سره په دې تاریخي خدمت کې یوځای ول چې مسلمان هېوادوال یې له صلیبي یرغلګرو سره د جهادي مقاومت سنګرونو ته رابلل او په علمي لحاظ یې د قرآني ارشاداتو او نبوي احادیثو په بیانولو سره هغوي د خدای د کلمې د لوړ والي او له دین او عقیدې څخه د دفاع لپاره جهاد ته تشویقول.

د امریکا په مشرۍ د نړیوال صلیبي ایتلاف په مقابل کې د تش لاسو او جګړه ځپلیو افغانانو را پورته کول او جهاد ته اماده کول عادي خبره نه وه.

ځکه همدغو افغانانو د شوروي اشغال په مهال دجهاد او اسلام څخه د دفاع په نوم یونیم میلیون شهیدان، ۷ میلونه مهاجر او په میلینونو نور اسیران زخمیان او معیوبین ورکړل، خو له بده مرغه چې دځینوتنظیمي مشرانو د اختلافاتو او جګړو له امله دغه ټولې قربانۍ په اوبو لاهو شوي چې له امله یې ټول افغان مجاهد ولس له سختي پریشانۍ او مایوسۍ سره مخ شو.

خو دشیخ صاحب هبة الله او دهغه د باعزمه ملګرو د نه ستړي کیدونکو هلو ځلو، عالمانه ویناوو، بلیغ او فصیح استدلال برکت و چې په افغانانو کې یې د هغوي له ټولو مایوسیو او ستړیاوو سرسره د صلیبي یرغلګرو په مقابل کې د جهاد جذبه بیا را ژوندۍ او په خالي لاسونو یې د امریکاپه مشري له نړیوال کفري ایتلاف سره جهادي مقاومت پیل کړ.

د دغه مقاومت په ترڅ کې افغان مسلمان ولس نړۍ ته دا وښودله چې هغوی که هرڅومره ستړي، ستومانه او تش لاسې وي، خو بیابه هم له یرغلګرو سره جهاد کوي او په دې به یې پوره باور وي چې د باطل په وړاندې وروستۍ بری به هم د دوي په برخه وي ... وکان حقا علینا نصر المؤمنین.

له صلیبي یرغلګرو سره د مقاومت په مهال د مقاومت کوونکو مجاهدینو تر شا د شیخ صاحب هبة الله په څیر د باعزمه علماوو هڅونې او معنوي حمایت و چې مجاهدینو وکړای شول په خالي لاس د امریکا په مشري نړیوال صلیبي ایتلاف او تر ټولو ستړپوځي ترون ناټو ته تاریخي ماتي ورکړي.

د یاد مقاومت په ۱۵ کلن بهیر کې شیخ صاحب هبة الله د دعوت او ارشاد له مسؤلیته نیولې بیا د تمیز او محاکمو تر عمومي ریاست پوري په بیلابیلو وظائفو کې کار وکړ.

**د اسلامي امارت د مرستیال په توګه:**

په کال ۱۳۹۴ هـ ش ۲۰۱۶ م کې چې کله د اسلامي امارت د رهبري شورا لخوا د مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) وفات اعلان او شهید ملا اخترمحمد (منصور) د امیر په توګه وټاکل شو، شیخ صاحب هبة الله د هغه د مرستیال په حیث تعین شو.

شهید امیر المؤمنین ملا اخترمحمد منصور د خپل خدای ورکړي استعداد له مخې د اشخاصو او مسؤلینو په انتخاب او ټاکلو کې ځانګړی مهارت درلود.

نوموړی دامارت په لېکو کې تقریبا ټول مهم مسؤلین شخصا پیژندل او هغوی هریوه ته یې د دوی د استعداد او پوهې مطابق مسؤلیتونه ورسپارلي ول.

د همدغو مسؤلینو له جملې څخه یو هم شیخ صاحب هبة الله و چې شهید امر المؤمنین د نوموړي کاري او علمي صلاحیت او د اسلامي امارت د مجاهدینو په منځ کې د هغه ټولنیز وجاهت ښه درک کړی و، هماغه و چې نوموړی یې د اسلامي امارت په اداري تشکیل کې د امارت د مرستیالۍ مقام ته انتخاب کړ ترڅو په همدغه لوړ اداري پوست کې د ده له کاري او علمي استعداد او صلاحیت څخه ښه استفاده وشي.

شهید امرالمؤمنین په دې انتخاب سره یو ډېر مهم او اساسي موفقیت دځان کړ او هغه داچې د امارت د مرستیالۍ په مقام کې د شیخ صاحب تعین د امارت د ټولو نظامي او اداري چارواکو د تجمع او راغونډېدلو لامل شو.

پوره لس میاشتې شیخ صاحب هبة الله د اسلامي امارت د مرستیال په حیث فعالیت وکړ چې په دې وخت کې اسلامي امارت ته د امریکایانو او دهغوي د ملاترو له لوري سخت ګواښونه متوجه ول.

د اسلامي امارت د تأسیسي مشر تر وفات وروسته چې ځیني کسانو د اسلامي امارت د نوي امیر په خلاف موقف ګیري وکړه په علمي لحاظ د هغوي په قانع کولو او اصلاح کولو کې د شیخ صاحب هبة الله رول ډیر دپام وړ بلل کیږي.

د اسلامي امارت په دې تاریخ سازه مرحله کې شیخ صاحب هبة الله ډیرې هلې ځلې وکړي، د مجاهدینو د وحدت او یووالي لپاره یې له علماوو، ملي مشرانو او جهادي اشخاصو سره متعددې غونډې وکړي او په ټولو همدغو مجالسو او غونډو کې به شیخ صاحب د مجاهدینو په وحدت الصف او اتفاق ډېر ترکېز کاوه.

هماغه وه چې دشهید امیر المؤ منین ملا اختر محمد منصور رحمه الله په قیادت کې د شیخ صاحب او د ده ترڅنګ د نورو شیوخو او علماوو د هلو ځلو له برکته خدای تعالی د اسلامي امارت متحد صف له تفرق او متلاشي کېدو څخه وژغوره، د اسلامي امارت د رهبري شورا غړي په یوه خوله د نوي امیر المؤمنین شهید ملا اخترمحمد منصور تر شا ودریدل او د هېواد ۳۴ ولایتونو ټولو والیانو، پوځي مسؤلینو ولسي مشرانو او د ولس ټولو پرګنو له هغه سره د یرغلګرو امریکایانو او د هغوی د ملاترو په خلاف د جهاد پر تداوم بیعت وکړ.

د اسلامي امارت د زعیم او امیر المؤمنین په توګه:

د ۱۴۳۷هـ ق کال دشعبان د میاشتې ۱۴ چې کله امیر المؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) رحمه الله د امریکایي ډرون په وسیله شهید کړای شو د اسلامي امارت رهبري شوری په اتفاق د رأیو سره شیخ هبة الله صاحب د اسلامي امارت د امیر، خلیفه صاحب سراج الدین (حقاني) او مولوي محمد یعقوب (مجاهد) یې د مرستیالانو په حیث وټاکلو.

د اسلامي امارت په مشر تابه کې د شیخ صاحب تعین د جهادي مصالحو د تحقق، له یرغلګرو امریکایانو او دهغوي له ملاترو سره د جهاد د تداوم او د اسلامي امارت د جهادي صف د متحد ساتلو تر ټولو غوره وسیله او لامل دی.

سره له دې چې داسلامي امارت د رهبري شورا په غړیو کې ډېر داسې اشخاص موجود ول چې هغوی له ډېر زیات پوځي اوسیاسي شهرت څخه برخمن ول، خو هغوی ټولو په اتفاق د آراوو سره شیخ صاحب هبة الله د نوموړي د علمي او جهادي استحقاق او همدا راز د جهادي صف د متحد ساتلو په خاطر نوموړی د دې مسؤلیت د پرمخ وړلو لپاره احق او وړ انتخاب وباله.

ځکه شیخ صاحب د امارت د ټولو ارکانو، مسؤلینو او عامو مجاهدینو په زړه کې د ځانګړې محبوبیت له مخې دهغوی ټولو لپاره نهایي قابل قدر او قابل اعتماد شخص بلل کیږي او الله تعالی ورته پرځان باندې د ټولو مسؤلینو او مجاهدینو د راغونډولو خاص صلاحیت ورکړی.

**د شیخ صاحب مذهبي او فکري لید لوری:**

شیخ صاحب هبة الله د افغانستان د نورو علماوو په څیر یو مذهبي عالم او د اهل السنة والجماعة په ډله کې د حنفي مذهب پیرو دی، د سنتو اتباع او د سلفو صالحینو لاره یې فکري منهج دی.

د مسلمانانو ترمنځ له هرډول مذهبي، فکري او تنظیمي تعصباتو څخه بې پروا، د بدعتونو او خرافاتو سرسخت مخالف دی، د اسلامي امت یووالی د مسلمانانو د کامیابي اصلي راز او تفرق یې د هرې بدمرغۍ عامل بولي.

په مطالعې کې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له سیرت او جهادي ژوند سره ځانګړې مینه لري، همدا لامل و چې کله په کال ۱۹۹۹ کې بیت الله شریف ته د حج فریضې اداء کولو لپاره ولاړ، هلته یې د حج د مناسکو تر اداء کولو وروسته په مدینه منوره کې د جبل احد او جبل رُماة د هغو تاریخي ځایونو لیدو ته ډیره لیوالتیاوه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ورکې د احد د تاریخي غزا پر مهال له مشرکینو سره د مقابلې پرمهال زخمي شوی او حضرت سید الشهداء حمزه رضی الله عنه په هماغه میدان کې شهید شوی و.

**د ورځني ژوند ځینې ځانګړتیاوې یې:**

شیخ هبة الله صاحب په خپل علمي او ټولنیز ژوند کې یو لړ ځانګړي مشخصات لري.نوموړي ته د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د یوه جامع او منل شوي شخصیت په سترګه ګوري.

همدا وجه ده چې هم دشهید امیر المؤمنین د انتخاب پرمهال شیخ صاحب د مجاهدینو په یووالي او له هغه سره په بیعت کولو کې اساسي رول درلود او هم د شهید امیر المؤمنین ترشهادت وروسته د اسلامي امارت د مشر تابه په حیث خپله د شیخ صاحب د تعین پر مهال د اسلامي امارت ټول اعضاء او مجاهدین په قاطع اتفاق سره د هغه په امارت متفق او ټولو بلا استثناء ورسره بیعت وکړ.

شیخ صاحب له تیرو لسو کلونو مسلسل دنبوي احادیثو او قرأن کریم دتفسیر درس ورکوي چې اوس یې په هېواد کې بې شمیره علماء شاګردان دي نوموړی د خپل جامع علمیت ترڅنګ د بیان له ښه فصاحت څخه هم برخوردار دی، په آساني سره کولی شي مقابل لوري ته ښه قناعت ورکړي.

د خپلو پریکړو او تصامېمو په تنفیذ کې خورا قاطع، جدي او باعزم دی.

په مجلس کې اکثرا خاموشه خو د ضرورت په وخت کې خبرې ډېرې موثرې او کاري وي.

سره له دې چې اوس د خپل عمر په ۵ لسیزه کې دی مګر له جهادي اعداد سره خاصه مینه لري.

سنګیني، وقار او اسلامي خواخوږي یې د ژوند له اساسي مشخصاتوڅخه ده.

ژوند یې ساده او بې تکلفه دی، په خوراک، څښاک ملبس او مسکن کې یې د ترفه هیڅ اثر نه لیدل کیږي.

د لیدلو پر مهال یې سړی د اسې احساسوي چې له خپل مهربان مشر ورور، او یاهم له مشفق استادسره مخ کیږي.

د جهادي چارو اهتمام په ډېر دقت کوي او اوس مهال یې د مطالعې او تدریس په ځای ډېر وخت د امارتي چارو په تنظیم، تنسیق او ترتیب کې تیریږي.

# د فاع وزارت له کاره لوېدلې الوتکه الوت ته چمتو کړه

**راپور: پامیر وطنوال**

د ملي دفاع وزارت وایي، د هوایي ځواک انجینرانو یوه بله روسي الوتکه ترمیم او الوت کولو ته چمتو کړه.

یو شمېر هېوادوال وایي، خوشاله دي چې دفاع وزارت د وسایلو په ترمیم کار شروع کړی او ګټه اخېستنې ته یې چمتو کوي.

خالد اتل چې د کابل اوسېدونکی دی شریعت ورځپاڼې ته وویل:»ماشاالله د دفاع وزارت کارونه د ستاینې وړ دي هغه څه، چې هېوادوال غواړي او ورته خوشالېږي د بیارغونې او ابادۍ خبرونه دي.موږ د دفاع وزارت د هوایي ځواک له انجینرانو ډېره مننه کوو، چې له کاره لوېدلي وسایل لکه چورلکې، رنجرې او د پوځ اړوند وسایل رغولو ته یې کار ویلای او ګټې ته یې چمتو کوي.الله ج دې زموږ انجینرانو ته ډېر عمر ورکړي. د وطن دښمنان دې تباه شي. له حکومت هېله لرمه، چې دغه اشخاص تقدیر او ونازوي.«

محمد حارث شریعت ورځپاڼې ته وویل: « موږ د خپل پوځ تر شاه ولاړ یو. دغه کړنې چې دفاع وزارت ورته کار ویلای موږ یې ستاینه کوو.

د فاع وزارت زموږ د زړه په خوښه خپلې چارې مخته وړي. له کاره د لوېدلو وسایلو د جوړولو اقدام یې عالي دی او ښه فکر یې کړی چې وسایل رغوي.«

د ملي دفاع وزارت دغه اقدام په ټولنیزو رسنیو کې هم ډېر ستایل کېږي، چې د انجینرانو ډله یې هغه وسایل رغوي، چې له کاره لوېدلي وي.

د اجمل اتل په نوم کس راته وویل:»ان شاء الله د دفاع وزارت دغه اقدام د ستاینې وړ دی. همدوی به افغانستان د پوځ په برخه کې له سیالانو سره سیال کوي.دا چې د وسایلو رغولو ته یې کار ویلای موږ خوشاله یوو او دغه لړۍ باید جاري وساتي.«

خو دفاع وزارت پر خپله ټوېټر پاڼه د ترمیم کړې الوتکې د ترمیم د الوت ویډیو هم خپره کړې او زیاتوي د هوایي ځواکونو تخنیکي ټیم (انجینرانو او تخنیکرانو) یوه بله (AN-۳۲B) روسي ډوله الوتکه ترمیم او فعاله کړه. چې ازمایښتي الوتنه یې په بریالېتوب ترسره کړه.

باید یادونه وشي چې دفاع وزارت څو ورځې وړاندې په ۲۰۳ منصوري قول اردو کې د ۴۱ عرادې بېلابیلو وسایطو د ترمیم خبر ورکړی وو، چې (۳۰) عرادې هاموې ټانګونه، (۶) عرادې انټرنشنل موټر او (۵) عرادې رینجر موټر پکې شامل وو.

# له شرعي نصوصو د یوې آلې په توګه استفاده

**لیکنه: سلمان العوده / ژباړه: نبراس الحق**

د ګردي میز چلوونکې ښځه وه، یو برخوال د هغې له خبرو او کړنو ډېر په تنګ شو، ویناوالو ته یې وخت نه ورکاوه، آن د هغوی د ناستې په څوکیو کې هم غرېږده، په هر څه کې یې کار و، ډېرې خبرې یې کولې او د فصاحت هڅه یې کوله.

کله چې د سړي نوبت راغی، اولنۍ خبره یې دا وه چې، په حدیث کې راغلي، هغه قوم نه شي کامیابیدای چې ښځه یې مشري کوي.

مطلب یې حدیث نه و، له ده سره د ښځې چلند ته یې اشاره وه. ولې مونږ د شخصي غچ په خاطر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه د یو چا په وړاندې د برید، انتقام او سپکاوي د وسیلې کار اخلو؟! له خپلې میرمنې سره یې شخړه راغله، دواړه غصه وو، خبرې تبادله کیدلې. په دې کې سړي خپلو جنګي کړښو ته شرعي نصوص راکاږل او ویې ویل: هو، ته ملامته نه یې، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي، ستا عقل او دین دواړه ناقص دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکله خپلو میرمنو ته دا خبره نه ده کړې، نه یې هغوی ته پیغور ورکړی او نه یې د هغوی توهین او سپکاوي لپاره داسې ویلي دي. که بشپړ حدیث ته وګورو، هلته یې د یو ښکلي، لطیف او راښکونکي مطلب لپاره د مقدمې په توګه فرمایلي چې، د عقل او دین ناقصانې (ښځې) په سړیو باندې تر بل هر شي زیاتې غلبه مومي. هلته که کلمې او عبارتونه له سیاق او مناسبت څخه ونه باسو، معنی یې واضحه ده. په تجارت کې یې تاوان وکړ، له شریکانو سره خفه شو، پیسې لاړې او د ګټې خوبونه اوبو یوړل. په یوې میلمستیا کې تصادفا له پخوانیو شریکانو سره مخ شو. کله چې د لمانځه وخت شو، امامت ته مخکې شو. په اولنې رکعت کې یې دا ایت قرائت کړ: ژباړه: «اوس چې دغه ظالمان څه کوي، نه الله(ج) له دوی څخه غافل مه ګڼه. الله(ج) خو دوی د هغې ورځې لپاره ځنډوي چې داسې حالت به وي چې سترګې یې نېغې رړې پاتې شي.» (ابراهیم سورت- ۴۲ آیت) په دوهم رکعت کې یې دا قرائت کړ: ژباړه: « آیاته نه ګوري چې ستاره د فیل له خاوندانو سره څه معامله وکړه.» (د فیل سورت(۱) آیت). د حال په ژبه یې پخواني شریکان، چې شا ته یې ولاړ و، تهدیدول. یوه تجارتي قضیه چې په محکمه کې تر څېړنې لاندې ده، په یوه دیني جګړه اوړي. د قضیې یو طرف په قرآني ایتونه خپله ملا تړي، هغه ایتونه چې نه په دې مورد کې نازل شوي او نه په دې خاطر نازل شوي چې د دوه کسانو ترمنځ بدبینې او فاصله زیاته کړي. شریکانو یې هم په خپل نوبت له لمانځه وروسته ګواښونه وکړل. د لمانځه دغه معنی او حیثیت خو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نه دی ثابت شوی.

په شخصي مواردو کې له شرعي نصوصو څخه دغه ډول استفاده د علمي او دیني امانت تقاضا نه ده. ممکن د دې لامل شي چې ډېر ضعیف النفسه او کم علمه خلک له شرعي نصونو انکار وکړي، سپکاوی یې وکړي او په زړه کې یې ورسره کرکه پیدا شي.

دعوت یو امانت او مسئولیت دی، باید د خلکو په زړونو کې له دین، پیغمبر او رب سره مینه پیدا کړو. د دې مینې لپاره اړینه ده چې دیني نصوص او ایماني ارزښتونه له شخصي جنجالونو لرې وساتو او خلکو ته یې په دې بڼه وړاندې نه کړو.

# د رمضان المبارک درې مهم وختونه!

**فیضاني**

اول وخت د روژه ماتي دی:

د روژه ماتي لپاره خوراک او څکاک وختي برابروئ او ځانونه د دعا لپاره اوزګاروئ، ځکه چې د روژه ماتي په وخت کې د روژه دار دعا خامخا قبلیږي او نه رد کیږي، نو په دې قېمتي وخت کې د ځان، اهل بیتو او نورو دوستانو لپاره دعاګانې کوئ.

دوهم وخت د شپې وروستۍ برخه ده:

په دې وخت کې له الله تعالی سره مناجات، راز او نیاز کوئ، ځکه په دې وخت کې الله تعالی داسې اواز کوي: څوک غوښتونکی شته دی چې زه یې ورکړم ؟

څوک ښښنه غوښتونکی شته دی چې زه ښښنه ورته وکړم؟.

نو په دې وخت کې استغفار ډېر وایئ !!!

دریم وخت د سهار دی:

د سهار د لمونځ له اداء کولو څخه وروسته د لمونځ په ځای کې کېنئ، چې تر څو لمر راوخېژي او دوه رکعته نفل د اشراق لمونځ اداء کړئ، ځکه رسول الله(ج) فرمایلي دي: څوک چې د سهار د لمونځ څخه وروسته د لمانځه په ځای کې کېني، بېځایه او دنیوي خبرې ونه کړي او د لمر له راختلو څخه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ اداء کړي، الله تعالی د یو قبول شوي حج او عمرې ثواب ورکوي، دغه خبره یې درې ځلې تکرار کړې ده.

## شعر و ادب

## غزلیات

**سنایی غزنوی (رح)**

مـــرد بی حاصـــل نیـــابد یـــار با تحصـــیل را
جـــــان ابـــراهیـــم بایـــد عشق اســماعیـــل را
گـر هــزاران جـــان لبش را هــدیه آرم گـــویدم
نـــزد عیسا تحـــفه چـون آری هـمی انجیل را
زلف چـون پرچین کند خواری نماید مشک را
غـمزه چـون بر هـم زند قیمت فـزاید نیـل را
چـون وصـال یار نبود گـــو دل و جـانم مـباش
چون شه و فرزین نباشد خـــاک بر سر فیـل را
از دو چشمش تیـز گـردد ساحـری ابلیـس را
وز لبـانش کـــند گـــردد تیـغ عـــزرایـــیل را
گر چه زمـزم را پدید آورد هـــم نامش بـه پای
او به مویی هم روان کرد از دو چشمم نیـــل را
جان و دل کـردم فدای خـــاکـــپایش بهـر آنک
از بـــرای کعبه چـاکـر بـــود بایـد میـــل را
آب خورشید و مه اکنون برده شد کو بر فروخت
در خـــم زلف از بـــرای عاشـــقان قـــندیل را
ای سـنایی گـــر هـــوای خــوبرویـان مـــی‌کنی
از نخستت ساخت بـایـد دبـــه و زنبیـــل را

***

من کیم کاندیشهٔ تو هم نفس باشد مرا
یا تمنـای وصـــال چون تو کس باشد مرا
گر بود شایستهٔ غم خوردن تو جان من
این نصیب از دولت عشق تو بس باشد مرا
گر نه عشقت سایهٔ من شد چرا هر گه که من
روی بـر تابم ازو پویـــان ز پس باشد مرا
هـــرنفس کـــانرابیـــادروزگـــارتـــوزنـــم
جـملهٔ عـــالم طفـیل آن نفس بـــاشد مرا
هر زمان ز امید وصل تو دل خوش کنم
باز گویم نه چه جای این هوس باشد مرا
چون خیال خاکپایت می‌نبیند چشم من
بر وصال تو چگونه دست رس باشد مرا

***

نیست بی دیدار تو در دل شکیبایی مرا
نیست بی‌گفتار تو در دل توانایی مرا
در وصالت بودم از صفرا و از سودا تهی
کرد هجران تو صفرایی و سودایی مرا
عشق تو هر شب برانگیزد ز جانم رستخیز
چون تو بگریزی و بگذاری به تنهایی مرا
چشمهٔ خورشید را از ذره نشناسم همی
نیست گویی ذره‌ای دردیده بینایی مرا
از تو هر جایی ننالم تو هر جایی شدی
نیست جای ناله از معشوق هر جایی مرا
گاه پیری آمد از عشق تو بر رویم پدید
آنچه پنهان بود در دل گاه برنایی مرا
کرد معزولم زمانه گاه دانایی و عقل
با بلای تو چه سود از عقل و دانایی مرا

***

نیست بی دیدار تو در دل شکیبایی مرا
نیست بی‌گفتار تو در دل توانایی مرا
در وصالت بودم از صفرا و از سودا تهی
کرد هجران تو صفرایی و سودایی مرا
عشق تو هر شب برانگیزد ز جانم رستخیز
چون تو بگریزی و بگذاری به تنهایی مرا
چشمهٔ خورشید را از ذره نشناسم همی
نیست گویی ذره‌ای دردیده بینایی مرا
از تو هر جایی ننالم تو هر جایی شدی
نیست جای ناله از معشوق هر جایی مرا
گاه پیری آمد از عشق تو بر رویم پدید
آنچه پنهان بود در دل گاه برنایی مرا
کرد معزولم زمانه گاه دانایی و عقل
با بلای تو چه سود از عقل و دانایی مرا

# مسلمان جراح (ابوالقاسم زهراوي)

**ژباړه: ډاکټر زاهد نایل**

ابوالقاسم زهراوي چې په اصل کې د مدينې منورې له انصارو څخه و، په ۹۳۶ زيږديز کال جنوبي هسپانيه کې زيږېدلی؛ د لسمې ميلادي پېړۍ مسلمان جراح دی. هغه د عملياتي جراحي په پلار مشهور دی. په يوولسمه پېړۍ کې يې له ۲۰۰ ډېر د جراحۍ وسايل اختراع کړي، چې ميليونونه انسانان يې ژغورلي. دی هغومره نه دی ياد شوی لکه څومره چې د نوموړي د اختراعاتو ارزښت دی. د الزهراوي يو مشهور کتاب «التصريف» نوميږي. دغه کتاب ۳۰ جلدونه لري، چې د هغه د ۵۰ کلونو د تجربې محصول دی. دا په اصل کې د جراحي وسايلو تصويري دايرة المعارف (پوهنغونډ يا انسايکلوپيډيا) ده.

دغه کتاب په اروپايي پوهنتونونو کې تر ۵۰۰ کلونو پورې د لارښود کتاب په حيث تدريسېده. دې ناياب کتاب په عملياتي جراحي او اروپايي رنسانس (اوښتون) کې کليدي کردار لرلی. دغه مسلمان جراح، اروپايان په لاتيني (علمي) لهجه ابوالکاسېس بولي. دی خپلې عملياتي پوهې او مهارت ته په کتو د منځنيو پېړيو او مسلماني نړۍ تر ټولو لوی جراح ګڼل کيږي. هغه د داخلي ټکونو (Stiches) له پاره Catgut ياني له حيواني بالخصوص د وري له کولمو نه په ګټې اخستنې يو ډول ګنډل؛ اختراع کړي چې تر دمګړۍ کارول کيږي. الزهراوي د ناروغيو له هغې معالجې چې نبي عليه السلام به ښودلې وې؛ اغېزمن و او د وګړيو په تداوي کې به يې دغې طريقې کارولې. هغه د C-Section (جراحي شق په ذريعه د زيږون عمليات) او د Cataract (د سترګې په ګاټې يو غير شفاف پوښ جوړېدل) عملياتو له پاره وسايل جوړ کړي وو. همدارنګه دی لومړنی شخص و، چې د فالج اصلي سبب يې معلوم کړ. مخکې د ده له وضاحته څوک نه پوهېدل چې لامل يې څه دی؟ الزهراوي ډېره ښه تشريح کړله چې دا څنګه د ملا د تير له کسر څخه رامنځته کيږي. هغه د جراحي وسايلو د تعقيم لپاره ځانګړې د کيمياوي موادو ګډوله وکاروله؛ کټ مټ لکه اوسنی ميکروب ضد مواد.

د هغه له مړينې کلونه وروسته نامتو ايټاليوی ژباړن ګيررډ د ده د زوکړې ځای يعنې د هسپانيې ټوليدو ته لاړ او د هغه ليکل يې له عربي نه لاتيني ته واړول. د ده اثار له ۱۲۵۰ ميلادي راهيسې په انګلستان کې د قلمي نسخو په شکل خوندي دي. له (۸مې تر ۱۳مې پېړۍ) دوره چې د مسلمانانو د طلايي عصر په نوم هم ياديږي، مسلمانانو پکې ګڼ نوموتي عالمان نړۍ ته وړاندې کړي.

مسلمانو پوهانو په دې عصر کې د پوهنې او علومو په بېلابېلو برخو؛ لکه: طب، نجوم، رياضي، فلسفه او... کې بنسټيز کارونه او څېړنې وکړې. الزهراوي د عصبي جراحي بې نظميو او ناروغيو په تشخيص کې هم حياتي کار کړی؛ د بېلګې په ډول د لاندې بې نظميو Management يا د تداوي لارې چارې موندل:

د کوپړۍ د زخمونو، د ملا د تير د ټپونو، د سر د ماتېدو (درزونو)، د Hydrocephalous ياني د CSF مايع تجمع په کوپړۍ کې چې د دماغو په انساجو زور راولي او سر معمولاً ډېر لوی ښکاري او Subdural Effusion (د کوپړۍ د Dura طبقې لاندې د مايع غونډېدل).

هغه يو وار له يو ماشوم سره مخ شو، چې سر يې لوی او پړسېدلی و.

ده چې وکوت نو معلومه يې کړه Hydrocephalous دی چې د CSF (د دماغو او د ملا د تير يوه بې رنګه مايع ده) د غير مکمل (ناقص) جريان له کبله رامنځته شوې.

هغه څو لسيزې د Cordoba (د ده د اوسېدنې سيمې) د اموي واکدارانو (الحکم ثاني او له هغه وروسته د المنصور) درباري ډاکټر هم پاتې شوی. الزهراوي د اطفالو د جراحي له پاره هم ډېر کار کړی. هغه تر ټولو لومړی و چې د Haemophilia (د وينې په خپل سر بهېدلو ناروغي چې يوازې په نرانو کې وي) طبي ارخ يې وڅېړه. Cat-Intestines (د داخلي شقونو او جرحو ګنډل د هغو تار ته ورته موادو په وسيله چې د حيواناتو له کولمو څخه يې په لاس راوړل) يې د ګنډلو (Suture) له پاره وکاروه. د وچې غاړې جراحي (Tracheotomy) عمليات يې ترسره او تشريح کړل.

هغه بيا هم لومړنی کس پاتې شوی چې دغه لاندې طبي پروسې او کارونه يې خپله ترسره کړې يا يې پکې توضيحات ورکړي: د تيانو د سرطان کلاسيک عمليات، د مثانې د تيږو ماتول په شعاعګانو (اوسنۍ Lithotripsy)، د تايرايد (د مرۍ په قدام کې وي) غدې د Cyst يا له مرداري ډکې کڅوړې د ليرې کولو تخنيک، د غوړو د غدو د کڅوړو (Sebaceous Cyst) درملنه د پلټونکې ستنې په ذريعه، د Cautery يا داغلو په مرسته د اوښکو د قنات د نالۍ داره زخمونو (Lacrimal Fistula) تداوي او د Walcher او Lithotomy ( نسايي وضعيتونه دي چې ميرمنو ته د زيږون پر مهال ورکول کيږي) پوزيشنونو ښودل.

د الزهراوي طبي دايرة المعارف کې لاندې طبي موضوعات او عملياتونه په خورا ښه ډول تشريح شوي:

د داغلو په ذريعه د جوف لرونکو زخمونوتداوي (Cauterization)، Incision (جرحي شق)، (Perforation) يا سوري کېدل, Venesection (رګ زني)، د هډوکو ارجاع يا په ځای کول، د دوا جوړونې په برخه کې هغه د زړه د ناروغيو او قبضيت له درملو نيولې د ښکلا تر دواګانو او پرهيزانه خوړو پورې توضيح کړي. په خپل کتاب (Liber Servitoris) کې يې د خپل وخت د دوايي د ساده او مرکبو (پيچيده) ترکيبونو په هکله هم معلومات ليکلي.

هغه پوځي طبي مرستې هم تشريح کړې او ترسره کړې، يورولوژي (د بولي تناسلي لارو جراحي) او اورتوپيډي (د هډوکو جراحي) کې يې هم اساسي کارونه کړي دي لکه د اوږې ارجاع (چې خورا سخت عمليات دي) او د اوس وخت (Kocher's) مانورې چې د تايرايد د غدې او د ګېډې په عملياتو کې ترې کار اخيستل کيږي.

هغه له Ambroise Pare نه ۶۰۰ کاله دمخه واضحه کړې، چې رګونه څنګه Ligate (د رګونو تړل چې وينه و نه بهيږي) کيږي. د پوزې د هډوکو او د ملا د مهرو د کسرونو د تداوي ترڅنګ يې د هډوکو او بندونو په اړه هم زښته ډېر ليکل کړي.

د هغه په تصويري دايرة المعارف د لسمې پېړۍ د کارېدونکو نسايي ولادي آلاتو تصويران هم شته.

هغه وخت يې چې د Gynecomastia (د نرانو تي د ښځو په شان غټېدل) جراحي تداوي او د معالجې وسايل ښودلي، اوس هم استعماليږي.

د هغه طبي ليکنې چې ګېررډ، روګريوس او رونالډوس ژباړلې، په غربي نړۍ کې ډېرې کارول شوې او ستايل شوې دي. د ده اختراعات او د جراحۍ لارښوونې تر ديارلسمې پېړۍ بيخي ډېر کارېدونکي او عصري ول.

د څوارلسمې پېړۍ مشهور فرانسوي جراح (Guy De Chauliac) په خپل کتاب کې له ۲۰۰ وارو ډېر د الزهراوي يادونه کړې. دغه کتاب تر اتلسمې پېړۍ پورې وخت په وخت خپور شوی، اوس هم په Oxford , Basel او Venice ښارونو کې موجود دی.

# روژه د برکتونو میاشت!

**خلورمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

پنځم برکت:

بل برکت ددې مياشتې دا دی چې دا مياشت د سخاوت او پېرزوينې مياشت ده له همدې کبله پدې مياشت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم سخاوت ډېر کاوه لکه په حديث کې چې راځي: کان رسول الله صلى الله عليهم وسلم أجود الناس وكان اجود ما يكون في رمضان.[متفق عليه]

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم تر ټولو خلکو سخي وو خو د روژې په مياشتې کې بيا بيخي ډېر سخي وو.

پدې خاطر چې پدې مياشتې کې د انسانانو




نيک اعمال د دې ترځنګ چې د قبلېدلو درجې ته ډېر نژدې دي څو برابره ورته حسابل کيږي نو ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم هم پدې مياشتې کې ډېر سخاوت کاوه او د نورو مسلمانانو لپاره هم پدې مياشتی کې سخاوت ډېر ثواب لري.

همدې ټکي ته په پام چې څومره مو په وسه وي په دې مياشتې کې بايد صدقات او خيراتونه ورکړو او له اړمنو انسانانو سره ډېرې مرستې وکړو تر څو هم دغه برکت لاسته راوړو او هم مو د نيکيو تله درنه سي.

دوام لري...

# حکایت

**حضرت سعدی (رح)**

یکی را از ملوک عجم حکایت کنند که دست تطاول به مال رعیت دراز کرده بود و جور و اذیت آغاز کرده تا به جایی که خلق از مکاید فعلش به جهان برفتند و از کربت جورش راه غربت گرفتند چون رعیت کم شد ارتفاع ولایت نقصان پذیرفت و خزانه تهی ماند و دشمنان زور آوردند.

هر که فریاد رس روز مصیبت خواهد
گو در ایام سلامت به جوانمردی کوش
بنده حلقه به گوش ار ننوازی برود
لطف کن لطف که بیگانه شود حلقه به گوش

باری به مجلس او در کتاب شاهنامه همی‌خواندند در زوال مملکت ضحّاک و عهد فریدون وزیر ملک را پرسید هیچ توان دانستن که فریدون که گنج و ملک و حشم نداشت چگونه برو مملکت مقرر شد گفت آن چنان که شنیدی خلقی برو به تعصب گرد آمدند و تقویت کردند و پادشاهی یافت گفت ای ملک چو گرد آمدن خلقی موجب پادشاهیست تو مر خلق را پریشان برای چه می‌کنی مگر سر پادشاهی کردن نداری:

همان به که لشکر به جان پروری
که سلطان به لشکر کند سروری

ملک گفت موجب گرد آمدن سپاه و رعیت چه باشد گفت پادشه را کرم باید تا برو گرد آیند و رحمت تا در پناه دولتش ایمن نشینند و ترا این هر دو نیست:

نکند جور پیشه سلطانی
که نیاید ز گرگ چوپانی
پادشاهی که طرح ظلم افکند
پای دیوار ملک خویش بکند

ملک را پند وزیر ناصح موافق طبع مخالف نیامد روی از این سخن در هم کشید و به زندانش فرستاد. بسی بر نیامد که بنی عمّ سلطان به منازعت خاستند و ملک پدر خواستند، قومی که از دست تطاول او به جان آمده بودند و پریشان شده بر ایشان گرد آمدند و تقویت کردند تا ملک از تصرف این به در رفت و بر آنان مقرر شد.

پادشاهی کو روا دارد ستم بر زیر دست
دوستدارش روز سختی دشمن زور آورست
با رعیت صلح کن وز جنگ خصم ایمن نشین
زان که شاهنشاه عادل را رعیت لشکرست

# افغان اعلانات

### تصحیح ضروی

یک قطعه اعلان دعوت به داوطلبی پروژه: تدارک چهار قلم گوشت باب ضرورت آمریت خدمات ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء. دارای نمبر تشخیصیه: NCB/RE/1402/COSP/G/003 در روزنامه هیواد به تاریخ ۱۴۴۴/۹/۵ مصادف با ۱۴۰۲/۱/۷ به نشر رسیده است که در آن تاریخ ضرب الاجل تسلیمی و بازگشایی آفرها همراه با شماره های تماس سهوا اشتباه درج گردیده و در اصل :
(ضرب الاجل تسلیمی و بازگشایی آفرها: ساعت ۱۰ قبل از ظهر مؤرخ ۱۴۰۲/۱/۲۹
شمارهٔ تماس برای حصول معلومات و شخص مسئول: شمارهٔ دفتر ۰۲۰۲۱٤۲۱۰۲ و شمارهٔ شخص مسئول ۰۷٤۸۵۹۵۰٦۰ می باشد.

***

### اطلاعیه لیلام

وزارت تحصیلات عالی ۸۵۶ قلم اموال و اجناس مختلف النوع دفتری، مستعمل و غیر کار آمد خویش را لیلام مینماید. اشخاص انفرادی ، شرکت های دولتی و خصوصی که خواهش خریداری و مزایده انرا داشته باشند ساعت ۸:۳۰ دقیقه مورخ ۱۴۰۲/۱/۱۴ به مدیریت عمومی محاسبه اجناس ،ریاست اداری و زیربنا وزارت تحصیلات عالی در جلسه داوطلبی اشتراک نمایند. قابل ذکر است که قبل از اشتراک در داوطلبی پانزده فیصد تضمین نقدا از هر اشتراک کننده اخذ میگردد.۷۹

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت صحت عامه جهت رفع ضرورت مریض و مریضداران شفاخانه های مرکز هر یک :
۱-کانتین شفاخانه محمد علی جناح.
۲-کانتین شفاخانه رحمن مینه.
۳-کانتین شفاخانه اندونیزیا.
۴-کفتریا انستیتوت علوم صحی غضنفر.
۵- کفتریا شفاخانه افغان جاپان.
۶-کفتریا شفاخانه ۱۰۰۰ بستر معتادین.
طور قرار داد از یک سال الی سه سال به کرایه میدهد. اشخاصیکه خواهش قرار داد را داشته باشند درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز کاری جهت اخذ شرطنامه از مدیریت املاک ریاست اداری وزارت صحت عامه و به تاریخ / /۱۴۰۲ ساعت ۸ بجه صبح آفرگشایی سر بسته صورت میگیرد به ریاست محترم اداری مراجعه نمایند. و حق الاشتراک مبلغ ۳۰۰۰ افغانی اخذ میگردد .۶۴

***

### اطلاعیه ضرورت حویلی کرائی

ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت کابل برای سال ۱۴۰۲ خویش به خاطر جابجاه نمودن دفاتر خویش به یک تعمیر که دارای ۱۲ اتاق نشمین ۵ باب تشناب یک تحویل خانه باشد ضرورت دارد . اشخاصیکه همچو تعمیر داشته باشند درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم به مدیریت عمومی محاسبه و خدمات این ریاست واقع سرک سوم سیلو کوچه سنگ تراشی بسپارند.۶۱

***

اطلاعیه به اجاره دهی

موازی ۵ جریب زمین دولتی واقع ساحه شیر خان کچ ولسوالی سروبی برای مدت ( ) سال آماده اجاره دهی میباشد اشخاص و افرادیکه خواهش گرفتن ساحه فوق را داشته باشند ۲۱ یوم بعد از نشر اعلان به مدیریت اراضی سروبی مراجعه نمایند. شرطنامه را ملاحظه تضمین نقدا اخذ میگردد.۷۴

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم صفی الله حکیمی فرزند حکیم الله حکیمی ولدیت عین الله حکیمی دارنده تذکره نمبر ( ۹۱۱۴۶-۱۲۰۰-۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک دواخانه صفی الله حکیمی واقع ناحیه یازدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سیمع الله محمدی فرزند محمد رسول ولدیت دولت خان دارنده تذکره شماره ( ۰۳۶۶۰-۰۴۰۶-۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است .
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۷۰

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سمیع الله صدیقی فرزند نعمت الله صدیقی ولدیت سید میرجان دارنده تذکره نمبر ( ۱۰۲۱۴-۰۹۰۲-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کاپیسا مالک دواخانه حکمت الله واقع ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سلیمان صافی فرزند زلمی ولدیت حضرت جان دارنده تذکره شماره ( ۰۹۲۳۲-۰۲۰۴-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت کاپیسا گردیده است .
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۰

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم امان الله عطایی فرزند محمد اعظم ولدیت عطا محمد دارنده تذکره نمبر ( ۷۱۲۴۶-۱۰۰۲-۱۴۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ مالک دواخانه مرتضی صمیمی واقع ولسوالی کشنده ولایت بلخ طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم صفت الله رحیمی فرزند حاجی داملا عباد الله ولدیت حاجی عبدالرحیم دارنده تذکره شماره ( ۵۳۶۳۶-۰۵۰۰-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ گردیده است.
اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۶۹

***

کرایی کور اړتیا ته خبر تیا

د کابل ښار پوهني ریاست د خپلو زدکوونکو د ۱۴۰۲ کال د تدریسی لپاره په (۵) حوزه کي د ( ۱۷ ) خونو کور د غازی محمد حسین شهید منځني ښوونځي لپاره اړتیا لري ، هغه کسان چي د یاد ښوونځي په سیمه کي دا ډول تعمیر ولري او وغواړي چي په کرایه قرار داد وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي له خپریدو نیټي څخه تر ۲۱ ورځو پوري د کابل ښار پوهني ریاست د تدارکاتو لوی مدیریت ته د څلورمی کارتي په سرای غزني سیمه کي وسپاري او شرطنامه دي وګوري .۶۳

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

وزارت ارشاد حج و اوقاف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک دو قلم البسه (چادر و واسکت) مورد ضرورت پروسه حج. اشتراک نموده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه امارت اسلامی افغانستان سر از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.
حصول شرطنامه از ادرس ذیل :
ریاست تدارکات ، وزارت ارشاد،حج و اوقاف، (شهرنو، چهاراهی عصمت مسلیم تعمیر سابقه ریاست حج فرضی) در اوقات رسمیات، ذریعه سی دی، فلش به دست آورده زمان آفرگشایی مطابق به مندرجات صفحه دستورالعمل به داوطلبان شرطنامه میباشد. آفرها دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر مبلغ (۱۰۰۰۰۰) یکصد هزار افغانی به شکل تضمین بانکی یا پول نقد بوده و شرایط اهلیت مطابق مندرجات صفحه معلومات داوطلبی می باشد.
نوت : اگر کدام تفاوت میان متن شرطنامه و اعلان دعوت به داوطلبی موجود باشد، متن شرطنامه مدار اعتبار است.

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

وزارت ارشاد حج و اوقاف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه اعمار یک محراب مسجد شریف در اداره محترم سنتدرد (انسا). اشتراک نموده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه امارت اسلامی افغانستان سر از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.
حصول شرطنامه از ادرس ذیل :
ریاست تدارکات ، وزارت ارشاد،حج و اوقاف، (شهرنو، چهاراهی عصمت مسلیم تعمیر سابقه ریاست حج فرضی) در اوقات رسمیات، ذریعه سی دی، فلش به دست آورده زمان آفرگشایی مطابق به مندرجات صفحه دستورالعمل به داوطلبان شرطنامه میباشد. آفرها دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر مبلغ (۲٦۰۵۰۰) دوصد و شصت هزار و پنجصد افغانی به شکل تضمین بانکی یا پول نقد بوده و شرایط اهلیت مطابق مندرجات صفحه معلومات داوطلبی می باشد.
نوت : اگر کدام تفاوت میان متن شرطنامه و اعلان دعوت به داوطلبی موجود باشد، متن شرطنامه مدار اعتبار است.

***

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۲۰۷۸/۷۳۶ به اسم صیام الدین فرزند فراموز و محترمه فرحناز بنت محمد حکیم مفقود گردیده اعتبار ندارد.۷۷

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۲۸۰۶/۱۰۲۵ به اسم نبی الله عباسی فرزند امان الله و محترمه بی بی زینب صاحب زاده بنت خواجه عبد الشکور مفقود گردیده اعتبار ندارد.۸۱

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۵۷/۱۱۲ به اسم عبدالولی عطایی فرزند عطاء الله و محترمه خرما بنت عنایت الله مفقود گردیده اعتبار ندارد.۷۸

### اطلاعیه مفقودی

کتابچه صفائی به اسم غلام رضا فرزند غلام حیدر مفقود گردیده اعتبار ندارد.۷۱

### اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۱۳۴۴/۴۰۸ به اسم محمد موسی فیضی فرزند فیض محمد و محترمه مینا احمدی بنت احمد علی احمدی مفقود گردیده اعتبار ندارد.۶۱

### اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر شرکت به اسم حشمت وهاب زاده فرزند گل آقا مفقود گردیده اعتبار ندارد.۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط مکتب ابتدائیه ذکور خیر آباد مفقود گردیده اعتبار ندارد.۶۶

***

اطلاعیه محکمه

اوراق دعوی حقوقی مسمات سعدیه بنت سید هارون علیه شهاب الدین فرزند حنیف در رابطه به موضوع طلاع تحت غور و بررسی این دیوان قرار دارد.
از اینکه مدعی علیه مذکور با وجود جلب های متعدد غرض پیشبرد دعوی حقوقی اش حاضر محکمه نگردید.
بناء به اطلاع اسامی شهاب الدین مدعی علیه مذکور و یا اگر کسی از وی اطلاع دارد در ظرف ۱۵ یوم به محکه ابتداییه زون چهارم شهر کابل ریاست دیوان مدنی غرض پیشبرد دعوی خویش حاضر گردند در غیر این صورت در مورد فیصله غیابی صورت خواهد گرفت .۷۳

***

### کرایی کور اړتیا ته خبر تیا

د کابل ښار پوهني ریاست د خپلو زدکوونکو د ۱۴۰۲ کال د تدریسی لپاره په (۱۵) حوزه کي د ( ۹ ) او یا تر هغه د دیرو خونو کورته د قالین بافی حرفوی او د سواد زده کری ښوؤنځي لپاره اړتیا لري ، هغه کسان چي د یاد ښوؤنځي په سیمه کي دا ډول تعمیر ولري او وغواړي چي په کرایه قرار داد وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي له خپریدو نیټي څخه تر ۲۱ ورځو پوري د کابل ښار پوهني ریاست د تدارکاتو لوی مدیریت ته د څلورمی کارتي په سرای غزني سیمه کي وسپاري او شرطنامه دي وګوري .۶۷

***

### کرایی کور اړتیا ته خبر تیا

د کابل ښار پوهني ریاست د خپلو زدکوونکو د ۱۴۰۲ کال د تدریسی لپاره په (اوولسمه) حوزه کي د ( ۴۰ ) او یا تر هغه د دیرو خونو کور د سید یوسف علمی د هلکانو دوهم نمبر لیسی لپاره اړتیا لري ، هغه کسان چي د یاد ښوؤنځي په سیمه کي دا ډول تعمیر ولري او وغواړي چي په کرایه قرار داد وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي له خپریدو نیټي څخه تر ۲۱ ورځو پوري د کابل ښار پوهني ریاست د تدارکاتو لوی مدیریت ته د څلورمی کارتي په سرای غزني سیمه کي وسپاري او شرطنامه دي وګوري .۶۵

### اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسهٔ داوطلبی پروژهٔ ذیل اشتراک و آفر سربستهٔ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر ها |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروژهٔ تدارک ۱۵ قلم میوه تازه ضرورت آمریت خدمات | COSP/G/0041402//NCB/RE | ٤٥,۰۰۰ | ۱٤۰۲/۲/۵ ساعت ۱:۰۰ قبل از ظهر |

نقل شرطنامهٔ مربوط را در حافظه یا فلش دیسک از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
ساختمان روابط عامه واقع دروازهٔ ورودی ادارهٔ امور. به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند: ایمیل آدرس ehsaneman99@gmail.com
شمارهٔ دفتر ۰۲۰۲۱٤۲۱۰۲ / شماره شخص مسئول ۰۷٤۸۵۹۵۰٦۰
آدرس بازگشایی آفرها: محوطهٔ قصر سلام خانهٔ ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل اول، سالون جلسات.۷۲

### اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسهٔ داوطلبی پروژهٔ ذیل اشتراک و آفر سربستهٔ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر ها |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروژهٔ تدارک ۳۱ قلم سبزیجات ضرورت آمریت خدمات | COSP/G/0051402//NCB/RE | ۲۵۰,۰۰۰ | ۱٤۰۲/۲/۷ ساعت ۱:۰۰ قبل از ظهر |

نقل شرطنامهٔ مربوط را در حافظه یا فلش دیسک از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
ساختمان روابط عامه واقع دروازهٔ ورودی ادارهٔ امور.
به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند: ایمیل آدرس ehsaneman99@gmail.com / شمارهٔ دفتر 0202142102
شماره شخص مسئول 0748595060 / آدرس بازگشایی آفرها: محوطهٔ قصر سلام خانهٔ ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل اول، سالون جلسات.

Shariat
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Wednesday 29 March 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 145

## نجات یک مریض سوء شکل از معیوبیت دایمی در شفاخانه سردار محمد داوود خان



یک مریض سـوء شـکل پس از عملیات موفقانـه از معیوبیت دایمی نجات یافت.
مسـوولان در شـفاخانه سـردار محمـد داوود خـان می‌گویند که دوکتـور عبدالولی احمدزی، معـاون اول قوماندانیـت صحیه ستردرسـتیز و تـیم متخصصین بخش اورتوپیدی در این شفاخانه یـک مریض سـوء شـکل پـا را موفقانه عملیات کرده‌اند.
به گفتهٔ مسوولان صحی شفاخانه، این مریض... ص۷

## د اوسپنې ویلې کولو فابریکو په تولیداتو کې زیاتوالی راغلی



بهـر ته د کبارْ قاچـاق له مخنیوي وروسـته د اوسـپنې ویلـې کولو فابریکو تولیدات زیات شوي دي.
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت ویلي چـې د کابینې د ۱۷ مصوبې د پرېکړې لـه مخې له هېواد څخه د زړو اوسـپنو او کبارْ صادرول او قاچاق د پخوا په څېر په مطلق ډول بند دي.
یاد معاونیت ویلـي چې د کبارْ او زړو اوسپنو د صادرولو او قاچاق له مخنیوي وروسته ... ۷مخ

## د میدان وردګو پوهنتون بیارغونه




شـریعت: د میدان وردګ ولایت پـه پوهنتون کـې د ۱۹.۲ میلیونه افغانیـو پـه ارزښـت بېلابېلـې پروژې بشپړې او ګټې اخیستلو ته وسپارل شوې.
د دغه ولایت چارواکو ویلي، چې د ۴.۵ میلیونـه افغانیو ترمیماتي، د ۵ میلیونـه افغانیـو د سـولري برېښـنا، د ۷ میلیونـه افغانیـو د کمپیوټرلب او سـولري برېښنا، د ۲ میلیونه افغانیو د کتابتون ۷مخ

## زابل کې د اوو ښوونځیو د رغونې چارې بشپړې شوې



د زابـل پـه مرکـز کلات او درېیو ولسـوالیو شـاه جـوی، میزانه او شـینکی کـې د ۷۰ زره امریکایي ډالرو په لګښـت د ۷ ښـوونځیو ودانۍ ترمیم او بیا ورغول شوې.
د دغـه ولایـت د پوهنـې رییس محمد نسـیم نصیر وویل، د دغو اوو ښـوونځیو د بیارغونې چارې د دغه ریاست تر چتر ... ۷مخ

## په ډنډشهاب الدین کې د هاشم خان ستر پُل د نړېدو له ګواښ سره مخ دی



د بغلان ولایـت د پلخمري اړوند د ډنډشهاب الدین د لسګونه کلیو اوسـېدونکي شـکایت کوي، چې د کندز په سـیند باندې په سـنتي ډول څه بانـدې اتیا کاله مخکې د هاشـم خان جوړ شوی پُل د نړېدو له ګواښ سره مخ دی.
د سـیمې یوتن اوسېدونکي حاجي محمد ولي د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د هاشم خان پُل زړګونه کورنۍ د پلخمري له ښار او د کندز - بغلان له لویې لارې سره نښلوي خو د طبعي پېښو، ۷مخ

## بادغیس کې د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو د تصفیې دوه دستګاوې فعالې شوې



شـریعت: د بادغیـس ولایت په مقر ولسـوالۍ کـې د ۱۱ میلیونو ۲۹۸ زره او ۶۴۸ افغانیـو پـه لګښت د څښـاک اوبو د تصفیې دوې دسـتګاوې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. ۷مخ

## بازداشت ۱۷ تن در پیوند به جرایم مختلف

شـریعت: هفده تـن از پنج ولایت کشـور در بیسـت و چهار سـاعت گذشـته، در پیوند به سـرقت و فساد اخلاقی از سـوی پولیس بازداشـت گردید.
دفتر مطبوعاتـی وزارت امـور داخله روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: از ایـن میان؛ چهار تـن در پیوند به فساد اخلاقی، دو سارق همراه با یک عراده واسطه سرقت شـده از تخار، سـه تن در پیوند به قضایای سـرقت از بامیان، سـه سـارق در هرات، دو سـارق موتر از کابل، دو سـارق از قندهـار و یک تن دیگـر در پیوند به دزدی در پکتیـا، از سـوی پولیـس بازداشت شدند.



## د افغانستان بانک نن ۱۴ میلیونه ډالره لیلاموي

شـریعت: د افغانسـتان مرکـزي بانـک اعلان کـړی چـې نن د چهارشـنبې پـه ورځ ۱۴ میلیونه امریکایـي ډالـره د داوطلبـۍ له لارې لیلاموي.
د افغانسـتان مرکزي بانک پرون د یـوه ټویټ په خپرولو سـره، له سـوداګریزو بانکونو، صرافانو او د پولي خدمتونو له شـرکتونو چې پر شـرایطو برابر وي غوښتي څو په دې داوطلبۍ کې ګډون وکړي.
یاد بانـک زیاته کړې چې د لیلام ګټونکـي بایـد خپل حسـابونه د لیلام ورځـې تر پایه تصفیه کړي.
مرکـزي بانک زیاتـه کړې چې د اسعارو د لیلام په داوطلبۍ کې د معاملاتو قسـمي تسویې ته اجازه نه ورکـول کېـږي او د داوطلبۍ ګټونکي بـه د خپل ذمت د قیمت پیسې په یو ځل، په نغد ډول او په ټاکلې موده کې د افغانستان بانک ته سپاري.


## رهایی یک تجار از نزد آدم‌ربایان در کابل

پولیـس کابل یک تجار را از چنگ آدم ربایان رهانید.
شـریعت: دفتـر مطبوعاتـی قوماندانی امنیه کابل روز گذشته با نشـر این خبر گفت: پولیس حوزه پانزدهـم کابل٬ یک تاجر را که دو ماه قبل از سـوی آدم ربایان ربوده شـده بود و در مربوطات آن حوزه نگهداری می شد، نجات دادند.
مسوولان حوزه پانزدهم می‌گویند، که شخص ربوده به نام حسام‌الدین می‌باشـد که دو ما قبل؛ از مقابل منزلش در کابل ربوده شده بود.
در پیونـد به این قضیـه چهار تن همراه بـا یک میل راکت انداز یک میل تفنګچه خپ کن دار دو قبضه برچه و وسـایل دیگر بازداشـت شدند.
بازداشـت شـدگان به جرم شان اعتراف کرده اند.

## یوازې پرون ورځ له ایران څخه نږدې دوه زره افغان کډوال راستانه شول

د کډوالـو او بېرته راسـتنېدونکو چـارو وزارت وایي پـرون ۱۹۶۳ افغان کډوال له ایرانه بېرته هېواد ته راستانه شوي دي.
دغـه وزارت پـه خپلـه ټویټرپاڼه لیکلي دغه کسان د هرات د اسلام کلا له لارې هېواد ته راغلي دي.
سـرچینې لیکلـي د کډوالو چارو وزارت استازولیو له خوا د راستانه شـوو کډوالو له سـروې وروسته ۲۷۸ کسـان د مرستو ترلاسه کولو په موخه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ نړیوال سازمان ته ورپېژندل شوي دي.
دا په داسـې حال کې ده چې په تېر یـو کال کې له ایرانـه نږدې ۵۲۷ زره افغان کډوال یا اړ کړل شـوي چـې دغه هېواد پرېـږدي او یا هم په خپله خوښـه بېرته افغانستان ته راغلي دي.

## ۹ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد شول



شریعت: د سټنډرډ ملي اداره وایي له ایرانه وارد شـوي نهه ټانکره بې کیفیتـه ډیزل یې د فـراه ولایت له «۷۸ میل» بنـدر څخه بېرته ایران ته ګرځولي دي.
د دې اداري ویانـد عاشـق اللـه وزیري پرون وویل، چې دغه اداره هېواد ته د بې کیفیته توکو د وارداتو مخنیوي کلک هـوډ لري. وزیري لـه ټولو سـوداګرو غوښـتي چې هېواد ته باکیفیتـه توکي وارد کړي او د سرغړونې په صورت کې به له قانوني چلند سره مخ شي.
دا په داسـې حال کـې ده، چې په دې وروسـتیو کې له ایـران څخه وارد شوي بې‌کیفیته تېل په وار وار د ملي سټنډرډ اداري له معاینې او تشـخیص وروسته بېرته دغه هېواد ته مسترد شوي دي.

## بامیانو کې د کچالو په حاصلاتو کې کموالی راغلی



تېر کال پـه بامیانو کـې د کچالو حاصلات ۲۸۰ زره متریک ټنه وو چې د ورم کال په پرتله ۲۴ سـلنه کموالی ښـیي. د بامیان د صنعت او سوداګرۍ امر نعیم رضایی وایي په دغه ولایت کې تېر کال د کچالو حاصلات د ورم کال په پرتله د پام وړ کم شـوي دي. نوموړي وویل چې پـه ۱۴۰۰ کال کـې د کچالو حاصلات شاوخوا... ۷مخ

## یک تعداد وسایط نظامی در نیمروز ترمیم و فعال گردید

شـریعت: پانزده واسـطهٔ نظامی شـامل تانک هامـوی ورنجر در نیمروز، توسـط تیم انجنیری قوای سرحدی ترمیم و فعال گردید.
مسـوولان کندک سـوم سرحدی نیمروز می‌گویند: که تیم ص۷



نظر دانشمند غربی در مورد روزه:
**دکتر «ژان فرموزان» روش معالجه با روزه را، به شست و شوی اعضای بدن تعبیر می‌کند.**